Download from:aghalibrary

له یاده وتلي

# سل نبوي سنتونه

ژباړن:

لقمان حکیم حکمت



## د ژباړن سریزه

نَحْمَدُهُ وَ نُصَلِّيْ عَلَى رَسُوْلِهِ الكَرِيْمِ وَبَعْد:

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له سنتو سره مینه او محبت او په ژوند کې پر نبوي سنتو باندې عمل درامد د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره د پوره مینې لرلو نښه او ستره علامه ده، له دې کبله بدعتونه په دین کې د غلیظ حرمت حکم لري په دې تړاو عمر بن عبدالعزیز رحمه الله فرمایي: [ اِذَا رَأَيْتَ قَوْماً يَتَنَاجُوْنَ فِيْ دِيْنِهِمْ بَشِيْءٍ دُوْنَ العَامّةِ فَاعْلَمْ أَنّهُمْ عَلَى تَأْسِيْسِ ضَلاَلَةٍ ]

ژباړه: کله چې داسې قوم او خلک ووینې چې په دیني چارو کې له عوامو پرته خپل منځ کې کُنګوسی کوي نو ویوهېږه چې د کومې بې لارۍ تاسیس کې بوخت دي.

او امام شافعي رحمه الله وایي : [إِذَا وَجَدْتُم سُنّةً لِرَسُوْلِ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فَاتّبِعُوْهَا وَلاَ تَلْتَفِتُوْ اِلَى قَوْلِ أَحَدٍ ) ]حلية

الأولياء: ٩ / ١٠٧ ]

ژباړه: چې کله هم د نبي صلى الله عليه وسلم سنت ووينئ نو ويې نيسئ او په ضد کې يې د هېڅ چا خبرې ته مه ګورئ.

او امام ابن عثيمين رحمه الله وايي: د سنتو پر ژوندي کولو انسان ته دوه ځل اجر ورکړل کيږي، يو ثواب يې په سنت باندې د عمل کولو او بل يې د سنت پر راژوندي کولو باندې. [ شرح رياض الصالحين: ٣ / ٥٢٨ ].

له دې کبله پر نبوي سنتو ځانګړې خيال کول د ښه مسلمان شيوه ده، ترڅو په سنتو باندې د عمل درامد له مخې د بدعتونو مخه ډپ شي ځومره چې بدعتونه ساه اخلي او ژوندي کيږي هومره ورسره نبوي سنت مړه کيږي.

**مبرة التواصل الخيرية** د ( سنن منسية ) په نوم پنځوس نبوي ارشادات چې واقعا له خلکو هېر و په جالب انداز تولنې ته وړاندې کړي دي چې ستاسو د ښه مستقبل په خاطر مې پښتو ته وژباړل.

WWW.LARHKUD.COM

پر نبوي سنتونو خلک اګاه کول هغه فرض دي چې د ګستاخان رسول په خولو کې خاورې ایرې ډپ کوي، که څه هم د لومړي ځل لپاره قریشو د نبي کریم صلی الله علیه وسلم پر ضد د بې ادبۍ ناوړه پروپیګنډه تونده کړه خو ولې حقیقت کله پټیږي؟! د دې پرې ځای چې خلک ترې زړه توري کړې لا خلک له ایماني بهیر او روښانه مبین شریعت سره غاړه غړې شول، دنبوي سنتونو د راژوندي کولو له دې چوپړ سره به بلا شمېر خلک اګاه شي او هغه ګوستاخانه منتن خوځښت سره به کرکه او نفرت ولري چې محسن انسانیت ته په سپکه ورګوري.

دا چې نبوي سنت د انسان په زندګۍ کې د خیر او برکت بې ساری اغیز لري د ځینو مخلصو ملګرو د تکراري اصرار له مخه مې ورته پنځوس نور هغه ډول سنت انضمام کړل چې هم یې مثوبت بې چروته دی او هم د خلکو له یاده وتلي دي.

WWW.LARHAUD.COM

الله پاک دې دا عمل خالص د هغه د رضا لپاره وګرځوي او رب کريم دې په دې کتاب د ډېرو اسلامي داعيانو پام د نبوي سنتو راژوندي کولو ته واړوي.

WWW.LARHKUD.COM

د نبوي سنت پېژندګلو:

د لغت له نګاه نه د سنت پېژندګلو:

سنت عربي کڼه ده او د لارې او سيرت - حسن وي او که قبيح - په معنا راځي.

د اصطلاح له نګاه نه د سنت پېژندګلو:

د عقيدې په اعتبار سنت د نبي کريم صلی الله عليه وسلم او د هغه د صحابه کرامو هغه علمي، اعتقادي، قولي او عملي هدايت ته ويل کيږي چې متابعت يې واجب او ورته

غاړه کېښودونکي يې محمود دي، او مخالفين پرې مذموم ګڼلی شي دي. (مباحث في عقيدة أهل السنة: (۱۳) د دکتور ناصر العقل ليکنه).

محدثين بيا سنت نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته منسوب قول، فعل او تقرير او خَلْقِي او خُلُقِي صفت ته وايي.

که څه هم سنت په اصطلاح کې بېلابېلې معناګانې لري خو نچوړ يې ايکې يواځې همدا کېدای شي چې له الزام پرته پرې شارع - الله پاک او د هغه رسول - امر کړی وي، چې کونکی يې ماجور او تارک ته يې عقاب نه متوجه کيږي.

<u>په نبوي سنتو باندې په عمل کې د سلفو صالحينو بيلګې او نمونې:</u>

WWW.LARHKUD.COM

**لومړی بیلګه** : امام مسلم رحمه الله په خپل صحیح کې روایت کوي: [حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ نُمَيْرٍ، حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ يَعْنِي سُلَيْمَانَ بْنَ حَيَّانَ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ سَالِمٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَوْسٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي عَنْبَسَةُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ، فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ بِحَدِيثٍ يَتَسَارُّ إِلَيْهِ، قَالَ: سَمِعْتُ أُمَّ حَبِيبَةَ، تَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «مَنْ صَلَّى اثْنَتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً فِي يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، بُنِيَ لَهُ بِهِنَّ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ» قَالَتْ أُمُّ حَبِيبَةَ: فَمَا تَرَكْتُهُنَّ مُنْذُ سَمِعْتُهُنَّ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ عَنْبَسَةُ: «فَمَا تَرَكْتُهُنَّ مُنْذُ سَمِعْتُهُنَّ مِنْ أُمِّ حَبِيبَةَ»، وَقَالَ عَمْرُو بْنُ أَوْسٍ: «مَا تَرَكْتُهُنَّ مُنْذُ سَمِعْتُهُنَّ مِنْ عَنْبَسَةَ» وَقَالَ النُّعْمَانُ بْنُ سَالِمٍ: «مَا تَرَكْتُهُنَّ مُنْذُ سَمِعْتُهُنَّ مِنْ عَمْرِو بْنِ أَوْسٍ ] (صحيح مسلم: (۷۲۸).

ژباړه: د ام حبیبې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له بي بي څخه روایت دی هغه وایي: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي ویل یې: داسي هیڅ مسلمان نشته چې د الله د رضا په خاطر د ورځې دولس رکعته نفل لمونځ وکړي او فرض نه وي مګر دا چې الله به ورله په جنت کې کور جوړ کړي، او یا په جنت کې به ورله کور جوړ کړی شي.

ام حبیبه رضي الله عنها وایي چې کله مې دا له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي ما دولس رکعته نفل لمونځ نه دی پرېښی.

عنبسه وایي: ما چې کله هم له ام حبیبې رضي الله عنها څخه یاد حدیث اوریدلی دی ما د شپې او ورځې دولس رکعته نفل لمونځ نه دی پرېښی.

WWW.LARHKUD.COM

عمرو بن اوس وايی چې کله مې هم دا حدیث له عنبسه
څخه اورېدلی دی له ما څخه دولس رکعتونه نفل لمونځ
نه دی فوت شوی.

نعمان بن سالم وايي: ما چې له عمرو بن اوس څخه
مذکور حدیث اورېدلی دی له ما څخه دولس رکعته
لمونځ نه دی فوت شوی.

**دوهمه بیلګه** : له فاطمې رضي الله عنها نه روایت دی
چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې د خدمتګار د
نه شتون ګیله وکړه، دا چې هغه خپله په کور کې نه و نو
عائشې رضي الله عنه وخبرو چې فاطمه رضي الله عنها
راغلې وه او د کورني خدمتونو له ستړیاو یې شکایت
درلود، فاطمه رضي الله عنها فرمايي: [فَجَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى
اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْنَا وَقَدْ أَخَذْنَا مَضَاجِعَنَا، فَذَهَبْتُ

WWW.LARHKUD.COM

لِأَقُومَ، فَقَالَ: «عَلَى مَكَانِكُمَا». فَقَعَدَ بَيْنَنَا حَتَّى وَجَدْتُ بَرْدَ قَدَمَيْهِ عَلَى صَدْرِي، وَقَالَ: «أَلَا أُعَلِّمُكُمَا خَيْرًا مِمَّا سَأَلْتُمَانِي، إِذَا أَخَذْتُمَا مَضَاجِعَكُمَا تُكَبِّرَا أَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ، وَتُسَبِّحَا ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، وَتَحْمَدَا ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمَا مِنْ خَادِمٍ] ( صحيح مسلم: (۷۲۸).

ژباړه: نبي صلی الله علیه وسلم مونږ ته په داسي حالت کي راغی چي مونږ په بسترو کي پراته و، ما وغوښتل چي ورته وپاخیږم نو راته یي وویل: مه پاخیږئ، هغه زمونږ ترمنځ کښیناست، تر دي چي د خپو یخوالی یي ما پر خپله سینه کي محسوس کړ، بیا یي وویل: ایا تاسو دواړو ته له هغه څه پرته بل ډېر ګټور شی نه درښایم چي تاسو یي غوښتنه کړي ده؟ کله چي دواړه خپلو بسترو - خوبځای - ته راشئ نو څلور دیرشت ځله الله اکبر

WWW.LAPHKUD.COM

وواييځ، درې ډېرشت ځله سبحان الله وواييځ او درې ډېرشت ځله الحمدلله وواييځ نو ستاسو لپاره دا له خدمتګار څخه ډېر بهتر دي.

علي رضي الله عنه وايي : ما چې کله دا له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي ان چې د صفين په شپه مې هم نه دي پرېښي.

**دريمه بېلګه** : عبدالله بن عمر رضي الله عنه چې به کله هم د جنازې لمونځ وکړ نو په دې ګمان چې سنت طريقه کار به وي نو له جنازې پسې به ورروسته تر مقبرې نه تلو، خو چې ځنګه يې له ابوهريره رضي الله عنه څخه نبوي سنت واوريدل چې له مړي سره تر مقبرې تللو کې يو قيراط مثوبت دى نو د مزيد تحقيق په خاطر يې خباب رضي الله عنه عائشې رضي الله عنها ته واستو چې ايا د

ابوهریره رضي الله روایت سم او که ناسم دی؟ خپله په مسجد کې کېناست او د مسجد کیتکۍ یې په لاسونو کې اړولې راړولې، هغه و چې استازی یې راستون شو چې ابوهریره رضي الله عنه په خپل روایت کې سم دم دی، کوم کانې کیتکۍ چې د ابن عمر رضي الله عنه په لاس کې وې ځمکې ته یې په زور خطا کړې او ویویل: خومره ډېر قیراطونه مو له لاسه وتلي دي؟!!

نو داسې نور بلا نمونې چې سلفو صالحینو څخه نبوي سنتونو ته د ژمنتیا او په اسلامي دین ثبات قدمې مونږ ته روایت کوي، تر دې چې نبوي سنتونو ته په معمولي تېکر یې له مخالف سره خبرې اترې پرېښې دي که څه هم پلار او ځوی به ولې نه و.

WWW.LARHKUD.COM

ابن القيم رحمه الله له ابن عطاء رحمه الله څخه نقلوي چې که څوک د نبوي سنتونو ادبونو ته ژمن وي نو د معرفت په نور به يې الله زړه روښانه کړي، د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د اوامرو په تمثيل، په افعالو کې وریسې اقتدا او اخلاقو ته يې عملي بڼه ورکولو کې چې کوم مقام او شرف الله ایښی دی په بل څه کې نشته.

(مدارج السالکین: ۲ / ٦٤٤ )

WWW.LARHKUD.COM

نبوي سنتو ته د ژمنتيا ګټې او فايدې:

نبوي سنتونو ته عملي بڼه ورکول او په دوران حيات کې يې د توان په اندازه پلي کول ډیرې ګټې او فايدې لري، چې له جملې څخه يې ځيني دا دي:

**لومړی ګټه:** د الله پاک د مینې او محبت په مقام مشرف کېدل، ځکه په نوافلو لمونځونو او صدقاتو او د احسان په کړدو کارونو باندې انسان د الله مینه او محبت ګټلی شي.

امام ابن القیم رحمه الله په دې باب کې غریب او عجیب اسلوب لري، هغه وایي:

الله درسره تر هغه مینه او محبت نه لري ترڅو یې د رسول ظاهراً او باطناً پیروکار نه شې، هم رسول په خبرو کې تصدیق کړې، او هم یې امر تمثیل کړې، دعوت یې ومنې، په مینه او خوشحالی یې پر ځان غوره او حقدار وبولې...

که درېیکې دا شته نه شي نو هلته ستون شه چې له کومه راغلی یې، له پلوشو بې برخې یې پلټنه یې وکړه.( مدارج السالکین: ۳ / ۳۷ )

WWW.LARHKUD.COM

**دوهمه ګټه** : د الله د معيت په مقام فايز کېدل، د تل لپاره به ورته الله پاک د خير د کارونو توفيق ورکوي او بدني غړي به يې هغو کارونو ته توندي کوي چې الله پاک راضي کوي.

**دريمه ګټه** : انسان وربانديې د مستجاب الدعوه تر مقام رسيږي.

**څلورمه ګټه** : نبوي سنتونو ته ژمنتيا په فرائضو کې د هغه خلل جبيره واقع کيږي چې له انسان څخه تکاسلاً په فرائضو کې وقوع ولري.

WWW.LARHKUD.COM

**پنځمه ګټه** : نبوي سنت پلي کول د انسان زړه ته د سعادت ژوند وربښي، زړه به يې د تل لپاره د الله د شعائرو په تعظیم ډک وي، د رب پروردګار پیروکاري به ورته خوند او مزه ورکوي.

**شپږمه ګټه** : نبوي سنتو ته په ژمنتیا سره انسان له دیني بدعتونو څخه خوندي پاتې کیږي.

**او له شک پرته څوک چې د سنت په عملي بڼه کې تکاسل کوي نو فرائضو کې په عدم ادا به محکوم شي.**

WWW.LARHAUD.COM

## باید څه وکړو؟

امام نووي رحمه الله وایي: که په فضائل اعمالو کې هر چا ته نبوي معلومات ورسیږي باید ده چې عملي بڼه ورکړي که څه هم په ژوند کې یو ځل وي، ترڅو په دې سره د نبوي سنت له پلي کوونکو څخه وشمیرل شي، په مطلقه توګه پرېښودل خو ورسره بیخي نه ښاییږي. (الأذکار: ۱ / ۱٦)

په نبوي سنتو پوري د ملنډو وهلو پایلې:

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ابرو الله پاک خپله خوندي کړې ده، تحفظ یې هغه په خپله کوي، که نبوي سنتو ته په استهزاء چا ته عاجل عقوبت نه ورکوي الله به وریکې خپل حکمتونه لري خو د نبوي سنتو په خدمت

WWW.LARHKUD.COM

کي بلا ډېرو کتابونو هغه واقعات هم ذکر کړي دي چي الله پاک يې مستهزئين په عاجل عقوبت نيولي دي، غواړم چي دلته يې ځيني بيلګې په دې خاطر ذکر کړم چي په ياد جرم کي اخته خلک ترې په توبه او استغفار سره د الله په لور راوکوچيږي:

WWW.LARHKUD.COM

لومړۍ پيبنه:

نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: [إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فَلْيَجْعَلْ فِي أَنْفِهِ، ثُمَّ لِيَنْثُرْ، وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ، وَإِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ فَلْيَغْسِلْ يَدَهُ قَبْلَ أَنْ يُدْخِلَهَا فِي وَضُوئِهِ، فَإِنَّ أَحَدَكُمْ لاَ يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ ] ( صحيح البخاري: ١٦٢ )

ژباړه: په تاسو کې چې کله څوک اودس کوي نو پوزې ته دې اوبه واچوي او بيا دې سوڼ کړي، او که په کاڼو استنجا کوي نو په طاق کاڼو دې اودس وچ وکړي، او که تاسو کې څوک له خوب څخه راپورته شي نو مخکې له دې چې لاس د اودس په اوبو کې ننباسي بايد درې ځل دې ووينځي، ځکه تاسو کې هيڅ چا ته معلومات نشته چې لاس يې شپه چرته تېره کړې ده؟

امام نووي رحمه الله په بستان العارفين کې وايي:

يو ديني مبتدع دا روايت واورېد نو استهزاءً يې وويل: ما ته پته ده چې لاس مې شپه چرته تېره کړې ده، په بستره کې يې تېره کړې ده، نو له خوب څخه د سهار په مهال په داسې حالت کې راپورته شو چې لاس يې په مقعد کې ننوتی و. ( بستان العارفين: (٥٠)،چاپ: دار الريان للتراث).



WWW.LARHKUD.COM

**دوهمه پېښه** : امام نووي رحمه الله په نفس کتاب او صفحه کې بله واقعه ذکر کړې ده چې زکريا بن يحيى الساجي رحمه الله وايي: مونږ د بصرې په کوڅو کې د يو محدث کور ته د زدکړې لپاره روان و نو زه مزل کې توند شوم، د استهزاء په بڼه يو توکمار ووېل: د ملائکانو له وزرو مو خپې پورته کړئ هسې نه ورله يې ماتې کړئ، نو ځای پر ځای يې خپې بې حرکته شوې او راوغورځېد.

(المجالسة وجواهر العلم: (٥ / ٢٩٤ )، د احمد بن مروان المالکي ليکنه. الرحلة فی طلب الحديث: (٨٥)، د ابوبکر الخطيب البغدادي ليکنه. مجموع رسائل ابن رجب الحنبلي: (٢ /٢٤٥٨) تحقيق: ابومصعب طلعت الحلواني)

WWW.LARHKUD.COM

**دريمه پېښه** : يو بل معتزلي چې همدا مذكور حديث يې

واورېد، نو په پښو كې يې ميخونه ټكل وهل چې غواړم

ملائك په خپلو وزرو كې ټپيان او له خپو يې لاندې كړم،

نو په خپو كې يې چينجي وشول. (المجالسة وجواهر

العلم: (٥ / ٢٩٤)، د احمد بن مروان المالكي ليكنه)

**څلورمه پېښه** : امام نووي رحمه الله مزيد ذكر كوي چې

د شام بصرا په ښار كې په شپږ سوه پنځه شپېتم هجري

كال كې يو سړى چې له اهل خير سره يې رويه بېخي

ناكاره وه، يوه ورځ يې څوى د عالم له مجلس څخه

راروان و او مسواك يې په لاس كې و، پلار يې ورته كړه:

ايا تا ته دې استاذ مسواك دركړ؟ مسواك ترې پلار

واخست او د استحقار په خاطر يې د څوى په مقعد كې

ومنډه، وخت لا تېر نه و چې د سړي څوى وشو شكل يې

WWW.LARHKLID.COM

د سپي او ماهي ته يې ورته والی درلود، نو سږی راپورته شو او ځوی يې مړ کړ او دوه درې ورځې وروسته خپله هم مړ شو. (فيض القدير شرح جامع الصغير: ( ۱ / ۲۷۸ )، لومړی چاپ، المكتبة التجارية اللكبرى مصر، ۱۳۵٦ه)

**پنځمه پېښه**: ابن خلكان ذكر كوي چې په (٦٦٥) هجري كال كې د دمشق په بصرا ښار د (ديره ابي سلامه ) په نوم كلي كې يو سړي د مسواك اړوند دفضيلت حديث واورېد، نو ويويل: زه مسواك د خولې لپاره نه بلكې د مقعد لپاره يې استعمالوم ترڅو پاك شم، نو مسواك يې په كې د استهزاء او استحقار په خاطر كېښود، نو پر دغه شپه درد ونيو او تر نهو مياشتو يې درد دوام ولرو چې له خيټې او مخرج څخه يې د دردونو شكايت كو، خيټه يې لكه د حاملې ښځې په خير وپړسېده، په نهمه مياشت يې

WWW.LARHKUD.COM

داسې حيوان ورو چې سر يې د ماهي او ځلور دارې يې لرلې، ځلور يې ګوتې او د يوې لويشت په اندازه اوږده لکۍ يې درلوده، ځلور يې ګوتې او د هوسۍ په څېر کوناټې يې لرل، نو لور يې پر حيوان ګوزارونه وکړل او پر سر يې ټپي او بيا مړ شو، درې يا دوه ورځې سرې ژوندی او بيا مړ شو، سړي به ويل: دغه حيوان راله خيټه او کولمې وشکولې(شذرات الذهب في أخبار من ذهب: ( ٧ / ٥٥١ ). تحقيق محمود الأرنؤوط: لومړی چاپ: ١٤٠٦ه، دار ابن كثير ، دمشق ، بيروت).

دا او دېته ورته نور ډېر حکايات او واقعيتونه چې د نبوي حديث خادمانو په خپلو کتابونو کې په خپلو سندونو له امامانو څخه نقل کړي دي، عظيم درس ورکوي چې نبوي سنت د الله په وړاندې بې سارې مکانت او مقام لري،

WWW.LARHKID.COM

دلته مو له دې واقعيتونو له ذکر څخه موخه هم دا وه چې نبوي اداب او سنت بايد په تحقير او استهزاء سره استقبال نه شي، که يو څوک يې له عملي بڼې څخه ناتوانه وي نو خپل عجز دې الله ته وسيله کړي چې پرې ويې نه نيسي، نه دا چې د نبوي سنتو له اورېدو سره د مبتدعينو او يا نور کافرانو مستهزئينو په څېر هغه څه وکړي چې هم يې دنيا ړنګوي او هم يې اخرت بدرنګوي.

لقمان حکيم حکمت

Hekmat۰۳٤٤@gmail.com

۲۰۱۷/۱۰/۱۱

WWW.LARHKUD.COM

**پښې ابله ګرځېدل:**

١ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ ( كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا أَنْ نَحْتَفِيَ أَحْيَانًا ) [سنن ابي داود: ٤١٦٠]

ژباړه: له عبدالله بن بريده رضي الله عنه نه روايت دى چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم به مونږ ته كله ناكله امر كوو چې پښې ابله شو.

WWW.LARHKUD.COM

**په درې ګوتو خوراک کول:**

٢ - : عَنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: ( كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ بِثَلَاثِ أَصَابِعَ، وَيَلْعَقُ يَدَهُ قَبْلَ أَنْ يَمْسَحَهَا ) [ صحيح مسلم: ٢٠٣٢]

ژباړه: له كعب بن مالک رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به په دريو ګوتو خوراک كو

او کوتي به يې له پاکولو نه مخکې په ژبه ښتلي.

**له خوب نه وروسته په سترګو لاس راښکل:**

٣ – : عَنْ مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجَلَسَ يَمْسَحُ النَّوْمَ عَنْ وَجْهِهِ بِيَدِهِ ) [ صحيح البخاري: ١٨٣ ]

ژباړه: د نبي کريم صلى الله عليه وسلم له بي بي ميمونې رضي الله عنها نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له خوبه راپورته شو، کښيناست او بيا يې په لاس باندې له خپل مخ نه خوب مسح کو.

WWW.LARHKUD.COM

**دتوبې لمونځ کول:**

٤ – : عَنْ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [ مَا مِنْ عَبْدٍ يُذْنِبُ ذَنْبًا، فَيُحْسِنُ الطُّهُورَ، ثُمَّ يَقُومُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ يَسْتَغْفِرُ اللَّهَ،

إِلّا غَفَرَ اللّٰهُ لَه ) [ سنن ابي داود: ۱۵۲۱، صحيح الجامع: ۵۷۳۸ ]

ژباړه: له ابوبکر رضي الله عنه نه روایت دی چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اورېدلي دي ویل یې : هیڅ یو بنده ګناه نه کوي او بیا ښایسته اودس وکړي بیا پورته شي او دوه رکعته لمونځ وکړي او له الله څخه بخشش وغواړي مګر الله به ورته بخښنه وکړي.

**له مجلس او لمونځ نه وروسته دعا**

۵ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: [ مَنْ جَلَسَ فِي مَجْلِسٍ فَكَثُرَ فِيهِ لَغَطُهُ، فَقَالَ قَبْلَ أَنْ يَقُومَ مِنْ مَجْلِسِهِ ذَلِكَ: سُبْحَانَكَ اللّٰهُمّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ، إِلّا غُفِرَ لَهُ مَا كَانَ فِي مَجْلِسِهِ ذَلِكَ ) [ جامع الترمذي: ۳۴۳۳]

ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول

WWW.LARHKUD.COM

الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: څوک چې په کوم مجلس کې کېني او د ګناه خبرې یې پکې ډېرې شي او له مجلس څخه د پاڅېدو نه مخکې دا ووايي: سبحانک اللّٰهُمَّ... ای الله تالره پاکي ده او ثنا هم تا لره ده، زه د دې ګواهي کوم چې له تا پرته بل برحق معبود نشته، زه له تا نه بخشش غواړم او تا ته توبه اوباسم، مګر د مجلس ټوله ګناه به ورته وبښل شي.

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ كَانَ إِذَا جَلَسَ مَجْلِسًا أَوْ صَلّى تَكَلّمَ بِكَلِمَاتٍ، فَسَأَلَتْهُ عَائِشَةُ عَنِ الْكَلِمَاتِ، فَقَالَ: سُبْحَانَكَ اللّهُمّ وَبِحَمْدِكَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْك ) [ سنن النسائي: ١٣٤٤]

ژباړه: له عایشې رضي الله عنها نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم چې به کله په مجلس کې کېناست او یا به یې لمونځ وکړ نو څه کلمات به یې ویل، نو عایشې رضي الله عنها ترې ددغې کلماتو پوښتنه وکړه، هغه ورته وویل: (سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ...)

## د شپې له مخې د لوښو او کالو سر پټول

٦ – : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: ( غَطُّوا الْإِنَاءَ، وَأَوْكُوا السِّقَاءَ، فَإِنَّ فِي السَّنَةِ لَيْلَةً يَنْزِلُ فِيهَا وَبَاءٌ، لَا يَمُرُّ بِإِنَاءٍ لَيْسَ عَلَيْهِ غِطَاءٌ، أَوْ سِقَاءٍ لَيْسَ عَلَيْهِ وِكَاءٌ، إِلَّا نَزَلَ فِيهِ مِنْ ذَلِكَ الْوَبَاءِ ) [ صحيح مسلم: ٢٠١٤ ]

ژباړه: له جابر رضي الله عنه نه روایت دی چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي ویل یې: د شپې له مخې د لوښو سرونه پټ کړئ او مشکیزې مو وتړئ، په کال کې یوه شپه ده چې مرضونه پکې رانښکته کیږي، په هیڅ لوښي نه تیریږي چې سر یې خلاص وي مګر له دغې وباءخه ورته یو څه ورښکته شي.

## د مسواک استعمالول

٧ – : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ



WWW.LARHKUD.COM

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ( لَوْلاَ أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي أَوْ عَلَى النَّاسِ لَأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ مَعَ كُلِّ صَلاَةٍ ) [ صحيح البخاري: ٨٨٧ ]

ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: که مې په امت باندې سختي نه راتله یا په خلکو سخته نه وه نو امر به مې ورته کړی و چې له هر لمونځ سره مسواک استعمال کړي.

**له ننوتو مخکې درې ځله اجازه غوښتل:**

٨ - : عَنْ أَبِيْ مُوْسَى أَشْعَرِيْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ (الِاسْتِئْذَانُ ثَلَاثٌ، فَإِنْ أُذِنَ لَكَ، وَإِلاَّ فَارْجِعْ ) [ جامع الترمذي: ٢٦٩٠ ]

ژباړه:له ابوموسی اشعري رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: اجازه درې ځل ده شي، که اجازت شي – نو ننوځه – ورنه بېرته ستون شه.

**کورته د ننوتو او وتلو په مهال دوه رکعتونه لمونځ کول:**

٩ - : عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَال: ( إِذَا خَرجْتَ مِنْ مَنْزِلَكَ فَصَلِّ رَكْعَتَيْن تَمْنَعانِك مِنْ مَخْرجِ السُّوءِ، وَإِذَا دَخَلتَ إِلَى مَنْزِلِكَ فَصَلِّ رَكْعَتين تَمْنَعانِكَ مِنْ مَدْخَلِ السُّوءِ) [ سلسلة الأحاديث الصحيحة: ١٣٢٣، أخبار الصلاة د عبدالغني المقدسي ليكنه: ١٦، ٢٥، مسند البزار : ٨٥٦٧ ].

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: كله چي له كور څخه وځې نو دوه ركعته وكړه تا به له ناكاره وتنځاى څخه وساتي، او چي كله كور ته ننوځې نو دوه ركعته وكړه تا به له ناكاره مدخل – ننوتون ځاى – څخه وساتي.

**له مؤذن سره د اذان كلمات ويل:**

١٠ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ: رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ( مَنْ قَالَ حِينَ يَسْمَعُ النِّدَاءَ: اللَّهُمَّ



WWW.LARHKUD.COM

رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلاَةِ القَائِمَةِ آتِ مُحَمَّدًا الوَسِيلَةَ وَالفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ، حَلَّتْ لَهُ شَفَاعَتِي يَوْمَ القِيَامَةِ ) [ صحيح البخاري: ٦١٤، ٤٧١٩ ]

ژباړه:له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما نه روايت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: څوک چې اذان واوري او بيا ووايي: اى الله د دې پوره دعوتنامې او د دائمي لمونځ ربه! محمد صلى الله عليه وسلم ته لوړه مرتبه او غيرمنتهي لوړ منزلت ورکړه، او د شفاعت هغه مقام ته يې ورسوه چې تا يې ورسره وعده کړې ده، نو د دغه انسان لپاره به د قيامت په ورځ زما سفارش واجب او ثابت شي.

**په ماشومانو سلام کول:**

١١ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ] مَرَّ عَلَى غِلْمَانٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ ) [ صحيح مسلم: ٢١٦٨ ]

ژباړه:له انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په ماشومانو باندې تېرېده نو سلام يې پرې وکړ.

**د پورته کېدو او ښکته کېدو اذکار:**

۱۲ – : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [ كُنَّا إِذَا صَعِدْنَا كَبَّرْنَا، وَإِذَا نَزَلْنَا سَبَّحْنَا ) [ صحيح البخاري:۲۹۹۳ ]

ژباړه:له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما نه روايت دي چې کله به مونږ پورته ختلو نو الله اکبر به مو ويل، او چې په ښکته به کوزېدو نو سبحان الله به مو ويل.

**په پېژندګلو او نه پېژندګلو ټولو باندې سلام کول:**

۱۳ – : عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ الْإِسْلَامِ خَيْرٌ؟ قَالَ: «تُطْعِمُ الطَّعَامَ وَتَقْرَأُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ، وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ )

[ سنن ابي داود: ۵۰۰۰ ]

ژباړه: له عبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه روایت دی چې یو سړي له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چې داسلام کوم خصلت ډېر غوره دی؟ هغه ورته وویل: دا چې ته خواړه ورکړې او پر هغه چا سلام وکړې چې یې پیژنې او که یې نه پیژنې.

**په ناسته باندې اوبه څښل:**

١٤ – :عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، [ أَنَّهُ نَهَى أَنْ يَشْرَبَ الرَّجُلُ قَائِمًا»، قَالَ قَتَادَةُ: فَقُلْنَا فَالْأَكْلُ، فَقَالَ: «ذَاكَ أَشَرُّ أَوْ أَخْبَثُ ) [ صحيح مسلم: ٢٠٢٤ ]

له انس رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم په ولاړه باندې له اوبو څښلو نه منعه کړې ده، قتاده وايي مونږ انس رضي الله عنه ته وویل: او په ولاړه خوراک کول؟ هغه وویل: دا خو بیخي ډېر بې خیره او یا ډېر پلیت کار دی.

WWW.LARHUD.COM

## په لمونځ کې د وسوسې په مهال کيڼ لورې ته توکاڼې

١٥ - : عَنْ أَبِي الْعَلَاءِ، أَنَّ عُثْمَانَ بْنَ أَبِي الْعَاصِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ حَالَ بَيْنِي وَبَيْنَ صَلَاتِي وَقِرَاءَتِي يَلْبِسُهَا عَلَيَّ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ذَاكَ شَيْطَانٌ يُقَالُ لَهُ خَنْزَبٌ، فَإِذَا أَحْسَسْتَهُ فَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنْهُ، وَاتْفِلْ عَلَى يَسَارِكَ ثَلَاثًا» قَالَ: فَفَعَلْتُ ذَلِكَ فَأَذْهَبَهُ اللهُ عَنِّي ) [ صحيح مسلم: ٢٢٠٣ ]

ژباړه: ابوالعلاء وايي چې عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه نبي صلى الله عليه وسلم ته راغی او ورته يې وويل: ای دالله رسوله! شيطان زما او د لمونځ په منځ کې مانع واقع کيږي لمونځ او قرائت راباندې ګډوډوي، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: دغه شيطان ته خنزب ويل کيږي، چې کله ترې څه محسوس کړې نو الله پورې ترې پناه ونيسه او خپل کيڼ لورې ته درې ځل توکاڼې واچوه،

عثمان وايي: ما همدغه شان وکړل نو الله پاک رانه شيطان وتښتو.

**د خوب په مهال اودس کول:**

١٦ – : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قال قَالَ رسُوْلُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ( طهروا هذه الأجساد طهركم الله فإنه ليس عبد يبيت طاهرا إلا بات معه ملك في شعاره لا ينقلب ساعة من الليل إلا قال: اللّٰهُمَّ اغفر لعبدك فإنه بات طاهرا ) [ صحيح الجامع الصغير: ٣٩٣٦ ]

ژباړه: له ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: الله دې تاسو پاک کړي خپل بدنونو مو پاک وساتئ، هېڅ انسان خپله شپه په طهارت کې نه تیروي مګر ملائک يې ورسره په جامه کې شپه تیره کړي او د شپې هېڅ وخت په ډډه نه اوړي مګر ملائک وايي: ای الله ستا دې بنده ته بخشش وکړه ځکه ده

WWW.LARHKUD.COM

شپه په طهارت کې تېره کړه.

## له مسلمان سره خندل:

۱۷ – : عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا، وَلَوْ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ ) [ صحيح مسلم: ۲٦۲٦ ]

ژباړه: له ابو ذر رضي الله عنه نه روايت دی چې ما ته نبي صلی الله عليه وسلم وويل: د خير هيڅ کار کم او سپک مه ګڼه، که څه هم د خپل مسلمان ورور سره په ورين تندي ملاقات ولې نه وي.

WWW.LARHKUD.COM

## په پڼو کې لمونځ کول:

۱۸ – : عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «خَالِفُوا الْيَهُودَ فَإِنَّهُمْ لَا يُصَلُّونَ فِي نِعَالِهِمْ، وَلَا خِفَافِهِمْ ) [ سنن ابي داود: ٦٥۲ ]

ژباړه: له شداد بن اوس رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: له یهودانو سره مخالفت وکړئ، هغوی په خپلو پېزارونو او بوټانو کې لمونځ نه کوي – مطلب تاسو وریکې لمونځونه وکړئ.

**په خواړو عیبونه نه ګول:**

١٩ – : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: ( مَا عَابَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا قَطُّ، إِنِ اشْتَهَاهُ أَكَلَهُ، وَإِنْ كَرِهَهُ تَرَكَهُ ) [ صحیح البخاري: ٥٤٠٩، صحیح مسلم: ٢٠٦٤ ]

ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم هېڅکله په خوارو باندې عیب نه دی لګولی، که به یې ورته زړه وشو خوړل به یې او که به یې ورته زړه ونه شو نو پرېښوده به یې.

**له اذان نه وروسته دعا ویل:**

WWW.LARHKUD.COM

٢٠ - : عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: ( مَنْ قَالَ حِينَ يَسْمَعُ الْمُؤَذِّنَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، رَضِيتُ بِاللَّهِ رَبًّا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، غُفِرَ لَهُ ذَنْبُه ) [ صحيح مسلم: ٣٨٦ ، صحيح الجامع: ٦٤٢٢]

ژباړه: له سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: څوک چې له مؤذن څخه ( اذان ) واوري او بیا ووایي: أشهد... زه د دې ګواهي ورکوم چې له الله پرته بل برحق معبود نشته هغه یواځې دی هیڅ شریک نه لري او محمد صلی الله علیه وسلم د هغه بنده او حق استازی دی، په الله باندې د رب په توګه، او په محمد صلی الله علیه وسلم باندې د اسماني استازي په توګه او په اسلام باندې د دین په توګه خوشحاله یم ، نو ټول ګناهونه به ورته وبښل شي.

WWW.LAPHKUD.COM

## له خوب نه مخکې سورت اخلاص او معوذتين لوستل:

٤١ – : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا ( أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ كُلَّ لَيْلَةٍ جَمَعَ كَفَّيْهِ، ثُمَّ نَفَثَ فِيهِمَا فَقَرَأَ فِيهِمَا: قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ، ثُمَّ يَمْسَحُ بِهِمَا مَا اسْتَطَاعَ مِنْ جَسَدِهِ، يَبْدَأُ بِهِمَا عَلَى رَأْسِهِ وَوَجْهِهِ وَمَا أَقْبَلَ مِنْ جَسَدِهِ يَفْعَلُ ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ) [ صحيح البخاري: ٥٠١٧ ]

ژباړه: له عايشې رضي الله عنها نه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم چې به کله هم هره شپه خپلې بسترې ته راغی خپل لاسونه به يې لپه کړل، کوپ به يې پکې وکړل او قل هو الله احد، قل اعوذ برب الفلق، قل أعوذ برب الناس به يې په کې ولوستل او چې د بدن ترکومه به يې لاس رسېده پر هغه ځای به يې راښکو، له سر او مخ او د بدن له مخامخ نه به يې شروع وکړه تول بدن به يې مسح کړ، درې ځل به يې دا کار کو.

WWW.LARHAUD.COM

**د څاښت لمونځ کول:**

۲۲ – : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ( أَوْصَانِي خَلِيلِي بِثَلَاثٍ لَا أَدَعُهُنَّ حَتَّى أَمُوتَ: «صَوْمِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ، وَصَلَاةِ الضُّحَى، وَنَوْمٍ عَلَى وِتْرٍ ) [ صحيح البخاري: ۱۱۷۸]

ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې ما ته مې دوست په درې شیانو وصیت کړی دی چې تر مرګه به یې نه پرېږدم: له هرې میاشت څخه درې ورځې روژه نیول، د ځاښت لمونځ او له ویده کېدو نه مخکې وتر کول.

**د غسل په مهال لومړی اودس کول:**

۲۳ – : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، ( أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ بَدَأَ فَغَسَلَ يَدَيْهِ، ثُمَّ تَوَضَّأَ كَمَا يَتَوَضَّأُ لِلصَّلَاةِ، ثُمَّ يُدْخِلُ أَصَابِعَهُ الْمَاءَ فَيُخَلِّلُ بِهَا أُصُولَ شَعْرِهِ، ثُمَّ يَصُبُّ عَلَى رَأْسِهِ ثَلَاثَ غُرَفٍ، ثُمَّ يُفِيضُ الْمَاءَ عَلَى

جَسَدِهِ كُلِّهِ ) [ سنن النسائي: ٢٤٧ ]

ژباړه: له عايشې رضي الله عنها نه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم به کله هم له جنابت څخه غسل کول، نو شروع به يې وکړه او لاسونه به يې ووينځل، بيا به يې لکه د لمونځ لپاره اودس وکړ، بيا به يې اوبو ته ګوتې ورښکته کړې او د وېښتانو بېخونه به يې پرې لانده کړل، بيا به يې په سر باندې درې لپې اوبه واچولې، بيا به يې په ټول بدن اوبه واړولې.

## د نويو کاليو (جامو) په وخت کې دعا:

٢٤ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ ( كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَجَدَّ ثَوْبًا سَمَّاهُ بِاسْمِهِ، عِمَامَةً، أَوْ قَمِيصًا، أَوْ رِدَاءً، ثُمَّ يَقُولُ: «اللَّهُمَّ لَكَ الحَمْدُ أَنْتَ كَسَوْتَنِيهِ، أَسْأَلُكَ خَيْرَهُ وَخَيْرَ مَا صُنِعَ لَهُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ ) [ جامع الترمذي: ١٧٦٧ ]

WWW.LARHKUD.COM

ژباړه: له ابوسعید خدري رضي الله عنه نه روایت دی چې کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم نوی کالي واچول نو نوم به یې ورله یاد کړ چې پټکی، یا کمیس او څادر بیا به یې وویل: اللّٰهُمَّ... ای الله! ستا لپاره ډېرې ثناګانې دي چې تا راته دا پوښاک راواغوندو، له تا څخه د دې پوښاک خیر غواړم او هغه خیر درنه غواړم چې دا پوښاک یې له کبله جوړ شوی دی، او تا پورې د دې پوښاک له شر نه پناه غواړم او له هغې شر نه درپورې پناه غواړم چې دا پوښاک یې له کبله جوړ شوی دی.

WWW.LARHUD.COM

**د چرګ له اواز سره دعا ویل:**

۲٥ – : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: ( إِذَا سَمِعْتُمْ صِيَاحَ الدِّيَكَةِ فَاسْأَلُوا اللَّهَ مِنْ فَضْلِهِ، فَإِنَّهَا رَأَتْ مَلَكًا، وَإِذَا سَمِعْتُمْ نَهِيقَ الحِمَارِ فَتَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ، فَإِنَّهُ رَأَى شَيْطَانًا ) [ صحیح البخاري:

٣٣٠٣ ]

ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: کله چې تاسو د چرګ اواز واورئ نو له الله څخه د هغه د مهربانۍ سوال وکړئ ځکه چې ملائک یې لیدلی وي، او کله چې د خر رمباړې واورې نو د الله پورې له شیطان نه پناه ونیسې ځکه چې شیطان یې لیدلی وي.

**له هر لمونځ نه وروسته ایت الکرسي لوستل:**

٢٦ - : عَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : ( من قرأ آية الكرسي دبر كل صلاة مكتوبة لم يمنعه من دخول الجنة إلا أن يموت ) [ صحيح الجامع: ٦٤٦٤ ]

ژباړه: له ابوامامه رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: څوک چې د هر فرض

لمونځ نه وروسته ایت الکرسي ولولي نو جنت له ننوتو یې
یواځې مرګ رابندوي.

**له سفر څخه د ستنېدو په مهال مسجد کې دوه رکعته لمونځ کول:**

۲۷ – : عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ( كَانَ لَا يَقْدَمُ مِنْ سَفَرٍ إِلَّا نَهَارًا فِي الضُّحَى، فَإِذَا قَدِمَ بَدَأَ بِالْمَسْجِدِ، فَصَلَّى فِيهِ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ جَلَسَ فِيهِ )
[صحيح مسلم: ۷۱٦]

ژباړه: له کعب بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به له سفر څخه نه راستنېده مګر د سهار په مهال، خو چې کله به راورسېد نو په مسجد کې به یې په دوو رکعتونه پیل وکړ او بیا به په کې کېناست.

**د رواتبو سنتونو خاص خیال ساتل:**

۲۸ – : عَنْ أُمِّ حَبِيْبَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ

WWW.LARKUD.COM

صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ( من صلى في يوم وليلة ثنتي عشرة ركعة بني له بيت في الجنة: أربعا قبل الظهر وركعتين بعدها وركعتين بعد المغرب وركعتين بعد العشاء وركعتين قبل صلاة الغداة ) [ صحيح الجامع: ٦٣٦٢ ]

ژباړه: له ام حبيبې رضي الله عنها نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: څوک چې په شپه او ورځ کې دولس رکعته لمونځ وکړي نو الله پاک به ورله په جنت کې کور ودان کړي، څلور رکعتونه له ماسپښين نه مخکې او دوه ورڅخه وروسته، او دوه له ماښام نه وروسته او دوه له ماسخوتن نه وروسته او دوه له سهار نه مخکې.

WWW.LARHUB.COM

**سپين وېښته له تورولو نه ساتل:**

٢٩ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ ( أُتِيَ بِأَبِي قُحَافَةَ يَوْمَ فَتْحِ مَكّةَ وَرَأْسُهُ وَلِحْيَتُهُ كَالثّغَامَةِ بَيَاضًا، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: «غَيّرُوا هَذَا بِشَيْءٍ، وَاجْتَنِبُوا

السَّوَاد ) [ صحيح مسلم: ۲۱۰۲ ]

ژباړه: له جابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روایت دی چې د مکې د فتح په ورځ د ابوبکر رضي الله عنه پلار ابوقحافه په داسې حالت کې راوستل شو چې سر او ږیره یې لکه د ثغامه بوټي په څیر تک سپین و، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: سپینوالی یې په څه شي بدل کړئ خو له تور رنګ نه ځان وساتئ.

## د وتر لمونځ

۳۰ – : عَنْ أَبِي بَصْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ( إن الله زادكم صلاة وهي الوتر، فصلوها بين صلاة العشاء إلى صلاة الفجر ) [ سلسلة الأحاديث الصحيحة : ۱۰۸ ]

ژباړه: له ابو بصره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: تاسو ته الله پاک د

وتر په نوم اضافی لمونځ هم درکړی دی، د ماسخوتن او سهار لمونځ ترمنځ يې وکړئ.

**ایکې یواځې د جمعې په ورځ روژه نه نیول:**

۳۱ – : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «لَا يَصُومَنَّ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الجُمُعَةِ، إِلَّا يَوْمًا قَبْلَهُ أَوْ بَعْدَهُ ) [ صحيح البخاري: ۱۹۸۵، صحيح مسلم: ۱۱٤٤ ]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې ما له نبي صلی الله عليه وسلم نه اورېدلي دي ويل يې: ايکې يواځې د جمعې ورځې روژه دې هېڅوک نه نيسي مګر دا چې يوه ورځ روژه ترې مخکې يا وروسته ونيسي.

**مسجد ته د شپې له مخې د ښځو تلل:**

۳۲ – : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ قَالَ: ( ائْذَنُوا لِلنِّسَاءِ بِاللَّيْلِ إِلَى المَسَاجِدِ ) [ صحيح البخاري: ۸۹۹، صحيح مسلم: ٤٤٢ ]

ژباړه: له ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: د شپې له مخې ښځو ته اجازت ورکړئ چې مسجدونو ته ولاړې شي.

**له شيدو وروسته مضمضه کول:**

۳۳ - : عَنِ ابْنِ عَبّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ( شَرِبَ لَبَنًا فَمَضْمَضَ، وَقَالَ: «إِنّ لَهُ دَسَمًا ) [صحيح البخاري:۲۱۱، صحيح مسلم: ۳۵۸، جامع الترمذي: ۸۹ ]

ژباړه: له عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم شيدې وڅښلې او بيا يې خوله ووينځله او ويويل: په باوري توګه چې شيدو لره غوړځي ده.

WWW.LARHKUD.COM

**د جمعې ورځې سهار لمونځ کې سورت سجده او سورت دهر لوستل:**

۳۴ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ( كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الجُمُعَةِ فِي صَلاَةِ الفَجْرِ الم تَنْزِيلُ السَّجْدَةُ وَهَلْ أَتَى عَلَى الإِنْسَانِ ) [ صحيح البخاري: ۱۰٦۸ ]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روایت دي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم به د جمعې د ورځې په سهار لمونځ کې الم تنزیل سجده او هل أتى على الانسان سورتونه لوستل.

**تحية المسجد کول که څه هم امام خطبه ولې نه وایي:**

۳۵ - : عَنْ جَابِرِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ ( دَخَلَ رَجُلٌ يَوْمَ الجُمُعَةِ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ، فَقَالَ: «أَصَلَّيْتَ؟» قَالَ: لاَ، قَالَ: «قُمْ فَصَلِّ رَكْعَتَيْنِ ) [ صحيح البخاري: ۹۳۱ ]

ژباړه: له جابر رضي الله عنه نه روایت دی چې د جمعې په

WWW.LARHKUD.COM

ورځ یو سړی مسجد ته راننوت او نبي صلی الله علیه وسلم خطبه کوله، نو سړي ته يې وویل: ایا لمونځ دې وکړ، هغه وویل : نا، نو ورته يې وویل: پورته شه او دوه رکعته لمونځ وکړه.

**د پړکالی یا سترړیا په وخت کې په ناسته لمونځ کول:**

۳٦ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا حَبْلٌ مَمْدُودٌ بَيْنَ السَّارِيَتَيْنِ، فَقَالَ: «مَا هَذَا الحَبْلُ؟» قَالُوا: هَذَا حَبْلٌ لِزَيْنَبَ فَإِذَا فَتَرَتْ تَعَلَّقَتْ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا حُلُّوهُ لِيُصَلِّ أَحَدُكُمْ نَشَاطَهُ، فَإِذَا فَتَرَ فَلْيَقْعُدْ ) [ صحيح البخاري: ۱۱٥۰ ]

ژباړه: له انس رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم ( کور ته ) ننوت نو د دوو ستنو ترمنځ يې ځړېدلې رسۍ ( پړی ) ولیده، ویې ویل: دا د څه شي رسۍ ده؟ هغوی ورته وویل: دا د زینب رضي الله عنها رسۍ ده چې

کله په لمونځ سترې شي نو ځان ورپورې وترې، نو نبي صلی الله علیه وسلم وویل: نا، رسۍ پرانیزئ، په تاسو کې دې هر څوک دومره عبادت وکړي چې څومره بیدار وي، خو چې سترى شيباید کيني.

**غائبانه کې مسلمان ورور ته دعا کول:**

۳۷ - : عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ( مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يَدْعُو لِأَخِيهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ، إِلَّا قَالَ الْمَلَكُ: وَلَكَ بِمِثْلٍ ) [ صحيح مسلم: ۲۷۳۲، صحيح الجامع: ۵۷۳۷ ]

ژباړه: له ابودرداء رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: هیڅ مسلمان نشته چې د خپل ورور لپاره غائبانه دعاګاني کوي مګر ملائک وایي چې ستا دې هم دغومره اجر وشي.

WWW.LARHKUD.COM

**د شكر سجده كول:**

٣٨ - : عَنْ أَبِي بَكْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ ( إِذَا جَاءَهُ أَمْرُ سُرُورٍ أَوْ بُشِّرَ بِهِ خَرَّ سَاجِدًا شَاكِرًا لِلَّهِ ) [ سنن ابي داود: ٢٧٧٤ ]

ژباړه: له ابوبكره رضي الله عنه نه روايت دى چې نبي صلى الله عليه وسلم ته چې به كله د خوشحالۍ څه شى راغلل يا به پرې د خوشحالۍ زيرى وشو نو الله ته به د شكر په حالت كې په سجده باندې پرېوت.

**ډېر استغفار ويل:**

٣٩ - : عَنِ الْأَغَرِّ الْمُزَنِيِّ، وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «إِنَّهُ لَيُغَانُ عَلَى قَلْبِي، وَإِنِّي لَأَسْتَغْفِرُ اللهَ، فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ ) [ صحيح مسلم: ١٥١٥ ]

ژباړه: له اغر مزني رضي الله عنه چې صحابى دى ورڅخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وايي: زما پر زړه باندې هم غفلت راځي او زه په ورځ كې له الله څخه

WWW.LARHKUD.COM

سل ځله بخشش غواړم.

**د باران راښکته کېدو په مهال باران ته ودرېدل:**

٤٠ - : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: أَصَابَنَا وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صلّى الله عليه وسلم مَطَرٌ فَخَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَسَرَ ثَوْبَهُ عَنْهُ حَتَّى أَصَابَهُ، فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، لِمَ صَنَعْتَ هَذَا؟ قَالَ: «لِأَنَّهُ حَدِيثُ عَهْدٍ بِرَبِّهِ » [ سنن ابي داود: ٥١٠٠]

له انس رضي الله عنه نه روایت دی چې مونږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره و او باران راباندې راښکته شو، له ځان نه یې کپړه پورته کړه تر دې چې باران پرې وشو، مونږ ورته وویل: د الله رسوله! دا دې ولې وکړل؟ هغه وویل: ځکه چې دا تازه د الله له خوا نه راغی.

**لویدلی خځوګی پاکول او خوړل**

٤١ - : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَكَلَ طَعَامًا لَعِقَ أَصَابِعَهُ الثَّلَاثَ، وَقَالَ: «إِذَا مَا وَقَعَتْ لُقْمَةُ أَحَدِكُمْ فَلْيُمِطْ عَنْهَا الْأَذَى وَلْيَأْكُلْهَا، وَلَا يَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ، وَأَمَرَنَا أَنْ نَسْلِتَ الصَّحْفَةَ»، وَقَالَ: «إِنَّكُمْ لَا تَدْرُونَ فِي أَيِّ طَعَامِكُمُ الْبَرَكَةَ » [ جامع الترمذي: ١٨٠٣ ]

ژباړه: له انس رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم به کله خواړه وخوړل نو درېواړه ګوتې به يې وڅټلې،اوويل به يې: کله چې تاسو کې له چا څخه مړی ولوېږي نو ګندګي دې ترې پاکه کړي او ودې خوري خو شيطان ته دې نه پرېږدي، او په دې يې هم مونږ ته امر کړی دی چې لوښی وڅټو، او ويل به يې: تاسو ته ددې پته نشته چې برکت مو د خوراک په کومه برخه کې دی.

**د شپې له شروع کېدو سره ماشومان له کوره بهر نه پرېښودل:**



WWW.LARHKUD.COM

۴۲ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ( إِذَا كَانَ جُنْحُ اللَّيْلِ - أَوْ أَمْسَيْتُمْ - فَكُفُّوا صِبْيَانَكُمْ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْتَشِرُ حِينَئِذٍ، فَإِذَا ذَهَبَ سَاعَةٌ مِنَ اللَّيْلِ فَخَلُّوهُمْ، وَأَغْلِقُوا الْأَبْوَابَ، وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَفْتَحُ بَابًا مُغْلَقًا، وَأَوْكُوا قِرَبَكُمْ، وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ، وَخَمِّرُوا آنِيَتَكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ، وَلَوْ أَنْ تَعْرُضُوا عَلَيْهَا شَيْئًا، وَأَطْفِئُوا مَصَابِيحَكُمْ ) [ صحيح مسلم: ۲۰۱۲، صحيح الجامع: ۷٦٤ ]

ژباړه: جابر بن عبدالله رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي دي: كله چې شپه تورتم شي – يا په تاسو ماښام شي – نو ماشومانان مو له ګرځېدو بند كړئ، ځكه دغه وخت كې شيطانانان خورېږي خو چې د شپې څه برخه تېره شي نو بيرته ماشومانان پرېږدئ، دروازې بندې كړئ او د الله نوم پرې ياد كړئ، شيطان بندې دروازې نه شي خلاصولی، د مشكونو خولې مو هم

WWW.LARHKUD.COM

وتړۍ او د الله نوم پرې یاد کړۍ، د لوښو کالیو سرونه مو پټ کړۍ او د الله نوم پرې یاد کړۍ ولو که په سر یې څه شی په اوږدو هم کېږدۍ – لکه لرګی - ، او ډیوې – اورونه – مو هم مړې کړۍ.

**نیم لمر او نیم سیوري ته نه کېناستل:**

٤٣ - : عَنْ أَبِيْ عَيَاضٍ عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ نهى أَنْ يجلسَ بين الضَّحِّ والظل، وقال: مجلس الشيطان ) [ سلسلة الأحاديث الصحيحة : ۳۱۱۰ ]

ژباړه: ابوعیاض له یو صحابي څخه روایت کوي چې نبي صلی الله علیه وسلم له دې څخه منع کړې ده چې څوک دې نیم سیوري او نیم لمر ته کېني، او ویویل: دا د شیطان ناستځۍ دی.

**توبه کې رښتنولي:**

٤٤ - : عَنْ كَعْبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ (قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِي صَدَقَةً إِلَى اللهِ وَإِلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ:أَمْسِكْ عَلَيْكَ بَعْضَ مَالِكَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ)[ صحيح البخاري: ٢٧٥٧]

قال ابن القيم: وَقَوْلُ كعب: «يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِي . دَلِيلٌ عَلَى اسْتِحْبَابِ الصَّدَقَةِ عِنْدَ التَّوْبَةِ بِمَا قُدِرَ عَلَيْهِ مِنَ الْمَالِ.) [ زاد المعاد: ٣ / ٥١٢ ]

ژباړه: كعب رضي الله عنه وايي چې ما وويل: اى د الله رسوله! د توبې د قبليدو – په خوشحالۍ كې – زه غواړم چې شتمني مې الله او دهغه رسول ته صدقه كړم، هغه وويل: ځينې شتمني دې له ځان سره پرېږده دا به درله ډېره غوره وي.

ابن القيم رحمه الله وايي: د كعب رضي الله عنه په دې قول كې چې د توبې د قبليدو په خوشحالۍ كې بايد زه خپل مال الله پاک او د هغه رسول لپاره صدقه كړم، دا په دې دليل دى

چې د توبې د قبلېدو په مهال د توان مطابق صدقه کول مستحب دي.

**له خوب نه مخکې بستره څنډل:**

٤٥ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [ إِذَا أَوَى أَحَدُكُمْ إِلَى فِرَاشِهِ، فَلْيَأْخُذْ دَاخِلَةَ إِزَارِهِ، فَلْيَنْفُضْ بِهَا فِرَاشَهُ، وَلْيُسَمِّ اللهَ، فَإِنَّهُ لَا يَعْلَمُ مَا خَلَفَهُ بَعْدَهُ عَلَى فِرَاشِهِ ) [ صحيح مسلم: ۲۷۱٤ ]

ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: کله چې تاسو کې څوک خپلې بسترې ته راشي نو په خپل څادر دې بستره وڅنډې او د الله نوم دې پرې یاد کړي، ځکه دا نه پوهیږي چې په بستره باندې څه شی پراته دي؟

**د کاسې له څنډو نه خوراک کول:**

WWW.LARHKUD.COM

٤٦ – : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ طَعَامًا فَلَا يَأْكُلْ مِنْ أَعْلَى الصَّحْفَةِ، وَلَكِنْ لِيَأْكُلْ مِنْ أَسْفَلِهَا، فَإِنَّ الْبَرَكَةَ تَنْزِلُ مِنْ أَعْلَاهَا ) [ سنن ابي داود: ۳۷۷۲ ]

ژباړه: له ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي: تاسو کې چې کله څوک خوراک کوي نو د کاسې له بره سره دې خوراک نه کوي، بلکې له لاندې نه دې خوراک کوي، ځکه د طعام په سر باندې برکتونه راښکته کيږي.

**د ښځو جامې اوږدول**

٤٧ – : عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا ذَكَرَ فِي الْإِزَارِ مَا ذَكَرَ، قَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ: فَكَيْفَ بِالنِّسَاءِ؟ قَالَ: «يُرْخِينَ شِبْرًا. قَالَتْ: إِذًا تَبْدُوَ أَقْدَامُهُنَّ، قَالَ: «فَذِرَاعًا، لَا يَزِدْنَ عَلَيْهِ ) [ سنن النسائي: ٥٣٣٨ ]

ام سلمه رضي الله عنها وايي چې نبي صلی الله عليه وسلم

چې کله د لنګ – پرتوګ – متعلق هغه څه وویل چې ویې
ویل: نو ام سلمه رضي الله عنها ورته وویل: ښځې باید څه
وکړي؟ هغه وویل: یوه لویشت دې اوږد پرتوګ وکړي، هغې
وویل: نو بیا یې هم خپې (قدمونه) ښکاره کیږي! هغه وویل:
پرتوګ دې یو څنګل اوږد وکړي او له دې نه دې نه اوږدوي.

**د دم په مهال دردمند ځای باندې لاس کېښودل:**

٤٨ – : عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ الثَّقَفِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ
شَكَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَعًا يَجِدُهُ فِي
جَسَدِهِ مُنْذُ أَسْلَمَ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
«ضَعْ يَدَكَ عَلَى الَّذِي تَأَلَّمَ مِنْ جَسَدِكَ، وَقُلْ بِاسْمِ اللهِ ثَلَاثًا،
وَقُلْ سَبْعَ مَرَّاتٍ أَعُوذُ بِاللهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِرُ» [
صحيح مسلم: ۲۲۰۲ ]

ژباړه: عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه نبي کریم صلی
الله علیه وسلم ته د اسلام له راوړو وروسته په خپل بدن کې

WWW.LARHKUD.COM

له درد څخه شکایت وکړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: خپل لاس دې د بدن پر هغه ځای کېږده چې دردیږي او درې ځله بسم الله ووایه، او بیا اووه ځله ووایه ( اعوذ بالله... ) د الله او دقدرت پورې یې له هغه شر نه پناه نیسم چې زه یې درد محسوسوم او ترې ویریږم او ځان ترې ساتم.

**له خوب نه وروسته پوزه وینځل:**

٤٩- : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنّ النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: ( إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ مَنَامِهِ فَلْيَسْتَنْثِرْ ثَلَاثَ مَرّاتٍ، فَإِنّ الشّيْطَانَ يَبِيتُ عَلَى خَيَاشِيمِهِ ) [ صحيح مسلم: ٢٣٨ ]

ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایي: په تاسو کې چې کله څوک له خوب څخه راببدار شي نو درې ځله دې پوزه ووینځي،



WWW.LARHKUD.COM

ځکه شیطان یې په خیشوم – پوزه – کې شپه تیروي.

**خطبه لنډه او لمونځ اوږد کول:**

۵۰ – : عَنْ أَبِيْ وَائِلٍ قَالَ خَطَبَنَا عَمّارٌ، فَأَوْجَزَ وَأَبْلَغَ، فَلَمّا نَزَلَ قُلْنَا: يَا أَبَا الْيَقْظَانِ لَقَدْ أَبْلَغْتَ وَأَوْجَزْتَ، فَلَوْ كُنْتَ تَنَفَّسْتَ فَقَالَ: إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، يَقُولُ: «إِنّ طُولَ صَلَاةِ الرّجُلِ، وَقِصَرَ خُطْبَتِهِ، مَئِنّةٌ مِنْ فِقْهِهِ، فَأَطِيلُوا الصّلَاةَ، وَاقْصُرُوا الْخُطْبَةَ، وَإِنّ مِنَ الْبَيَانِ سِحْرًا » [ صحيح مسلم: ۸۶۹، صحيح الجامع: ۲۱۰۰ ]

ژباړه: ابو وائل وایي عمار رضي الله عنه موږ ته لنډه خطبه راکړه کله چې له ممبر نه راښکته شو موږ ورته وویل: ای ابو الیقظان! خبرې دې ښې وکړې خو ډېره لنډه خطبه دې وویله، که خطبه دې لږه اوږده کړې وی ډېره به ښه وه، هغه وویل: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي چې د سړي اوږد لمونځ او لنډه خطبه د هغه د علم نښه ده،

لمونځ اوږد وکړئ او خطبه لنډه وواييئ، او هرومرو ځيني بيانونه – په اثر او زړه راښکلو کې – د سحر په څېر وي.

**له ښځې سره د کور په کارونو کې مرسته کول:**

٥١ – : عَنْ عَمْرَةَ، قِيلَ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا: ( مَاذَا كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْمَلُ فِي بَيْتِهِ؟ قَالَتْ: كَانَ بَشَرًا مِنَ الْبَشَرِ، يَفْلِي ثَوْبَهُ، وَيَحْلِبُ شَاتَهُ ) [ الأدب المفرد: ٥٤١]

ژباړه: عمره وايي له عائشې رضي الله عنها څخه وپوښتل شول چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به په کور کې څه کول؟ هغې ورته وویل: هغه د انسانانو په څیر انسان و، خپل کالي به يې پریمینځل او خپله به يې لش کو.

**اودس نه وروسته د جنتونو د دروازو ګټلو دعا ويل:**

٥٢ – : عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رُسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

WWW.LARHKUD.COM

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ( مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُبْلِغُ – أَوْ فَيُسْبِغُ – الْوَضُوءَ ثُمَّ يَقُولُ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ ) [ صحيح مسلم: ٢٣٤ ]

ژباړه: له عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: په تاسو کې داسې څوک نشته چې پوره اودس وکړي او بيا له اودس نه وروسته ووايي: أَشْهَدُ... زه په دې ګواهي ورکوم چې له الله پرته بل برحق معبود نشته او محمد صلى الله عليه وسلم د الله بنده او رسول دی، مګر دا چې د جنت اته واړه دروازې به ورته بيرته شي او چې له کومې يې خوښه شي جنت ته به لاړ شي.

**د لمونځ نه ورسته تسبيحات، تکبيرات او تحميدات په ګوتو شمېرل:**

٥٣ - : عَنْ حُمَيْضَةَ بِنْتِ يَاسِرٍ، عَنْ جَدَّتِهَا يُسَيْرَةَ، وَكَانَتْ مِنَ الْمُهَاجِرَاتِ، قَالَتْ: قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (عَلَيْكُنَّ بِالتَّسْبِيحِ وَالتَّهْلِيلِ وَالتَّقْدِيسِ، وَاعْقِدْنَ بِالْأَنَامِلِ فَإِنَّهُنَّ مَسْئُولَاتٌ مُسْتَنْطَقَاتٌ، وَلَا تَغْفُلْنَ فَتَنْسَيْنَ الرَّحْمَةَ ) [ سنن الترمذي: ٣٥٨٣ ].

ژباړه: حمیصه له خپلې نیا یسیره ښځه روایت کوي چې مونږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسو وویل: تاسو سبحان الله، لا اله الا الله د ګوتو په بندونو باندې وواییئ، ځکه له دې ښځه به پوښتنه کېدلی شي او خبرې به کوي، او له دې ښځه مه غافله کیږئ ورنه رحمت به هېر او تیر کړئ.

**د سهار لمونځ نه وروسته تر لمرخاته پورې په مسجد کې کېناستل:**

٥٤ - : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (مَنْ صَلَّى الغَدَاةَ فِي جَمَاعَةٍ ثُمَّ قَعَدَ يَذْكُرُ اللَّهَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ كَانَتْ لَهُ كَأَجْرِ حَجَّةٍ وَعُمْرَةٍ ) [ سنن الترمذي: ٥٨٦].

له انس رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي: څوک چې د سهار لمونځ وکړي وکړي او تر لمر خاته پورې په مسجد کې کیني او بیا دوه رکعتونه لمونځ وکړي نو د حج او عمرې په څېر ثواب به یې وشي.

WWW.LARHKUD.COM

**د ماښام لمونځ نه مخکې دوه رکعت نفل کول:**

٥٥ - : عَنْ عَبْدِ اللهِ الْمُزَنِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ( صَلُّوا قَبْلَ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ»، ثُمَّ قَالَ: صَلُّوا قَبْلَ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ لِمَنْ شَاءَ، خَشْيَةَ أَنْ يَتَّخِذَهَا النَّاسُ سُنَّةً ) [ سنن أبي داود: ١٢٨١ ].

ژباړه: له عبدالله مزني رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: له ماښام څخه

وړاندې دوه رکعته لمونځ وکړي، بیا یې وویل: له ماښام څخه وړاندې دوه رکعتونه لمونځ وکړئ خو که د چا خوښه شي، دا په دې خاطر چې خلک به یې لازمي سنت ونه نیسي.

### د ماسخوتن لمونځ نه ورسته بنډارونه نه کول:

٥٦ - : عَنْ أَبِيْ بَرزَةَ الأَسْلَمِيْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ ( ...وَكَانَ يَسْتَحِبُّ أَنْ يُؤَخِّرَ العِشَاءَ، الَّتِي تَدْعُونَهَا العَتَمَةَ، وَكَانَ يَكْرَهُ النَّوْمَ قَبْلَهَا، وَالحَدِيثَ بَعْدَهَا ) [ صحيح البخاري:٥٤٧ ].

ژباړه: له ابوبرزه اسلمي رضي الله عنه نه روایت دی نبي کریم صلی الله علیه وسلم به پسنده بوله چې د ماسخوتن چې تاسو ورته (عتمه) وایئ لمونځ یې تاخیر کړي، هغه به له لمونځ څخه مخکې خوب او ورڅخه وروسته به یې خبرې اترې بدې ګڼلې.

## د خوب په مهال اور وژل:

٥٧ – : عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: (أَطْفِئُوا المَصَابِيحَ إِذَا رَقَدْتُمْ، وَغَلِّقُوا الأَبْوَابَ، وَ أَوْكُوا الأَسْقِيَةَ، وَخَمِّرُوا الطّعَامَ وَالشّرَابَ - وَأَحْسِبُهُ قَالَ - وَلَوْ بِعُودٍ تَعْرُضُهُ عَلَيْهِ ) [ صحيح البخاري: ٥٦٢٤ ].

ژباړه: له جابر رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلى الله علیه وسلم فرمایي: کله چې بیده کیږئ نو رڼاګاني ( اورونه ) ووژنئ، د مشکونو (لوښو) خولې وتړئ، خواړه او څښاک باندې څه خپور کړئ – او داسې مې ګمان دی چې یې وویل: څه لرګی – خځنی – پرې اوږد کیږدئ.

WWW.LARHKUD.COM

## په ښی اړخ ویده کېدل:

٥٨ – : عَنِ البَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النّبِيُّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: [ إِذَا أَتَيْتَ مَضْجَعَكَ، فَتَوَضّأْ وُضُوءَكَ لِلصّلاَةِ، ثُمّ اضْطَجِعْ عَلَى شِقِّكَ الأَيْمَنِ، ثُمّ قُلْ: اللّهُمّ أَسْلَمْتُ

وَجْهِي إِلَيْكَ، وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ، وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ، رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ، لاَ مَلْجَأَ وَلاَ مَنْجَا مِنْكَ إِلَّا إِلَيْكَ، اللّهُمَّ آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الّذِي أَنْزَلْتَ، وَبِنَبِيّكَ الّذِي أَرْسَلْتَ، فَإِنْ مُتّ مِنْ لَيْلَتِكَ، فَأَنْتَ عَلَى الفِطْرَةِ، وَاجْعَلْهُنّ آخِرَ مَا تَتَكَلّمُ بِهِ ) [ صحيح البخاري: ٢٤٧ ].

له براء بن عازب رضي الله عنه نه روايت دى چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: كله چې خپلې بسترې ته راشې نو د لمونځ لپاره د اودس په څېر اودس وكړه او بيا په خپل ښى اړخ څمله، او بيا ووايه: اى الله تا ته مې مخ تابع دى، ما خپلې ټولې چارې تا ته در وسپارلې، خپله شا مې تا ته ډډه كړه، ستا څخه د ثواب د طمع توقع او له عذاب څخه دې د ډار له كبله مې دا وكړل، له تا پرته د پناه ځاى او د خلاصون لاره بله نشته، اى الله! ستا په هغه كتاب مې ايمان دى چې تا نازل كړى دى او پر هغه نبي مې ايمان دى چې تا راستولى دى، كه په دغه شپه ته مړ هم شې نو په دين

اسلام به مړ يي، او دا دعا په ټولو دعاګانو کې اخره وواېه.

**د خپلې ښځې د خپلو خپلوانو قدر او احترام کول:**

۵۹ – : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: ( مَا غِرْتُ عَلَى أَحَدٍ مِنْ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا غِرْتُ عَلَى خَدِيجَةَ، وَمَا بِي أَنْ أَكُونَ أَدْرَكْتُهَا وَمَا ذَاكَ إِلَّا لِكَثْرَةِ ذِكْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهَا، وَإِنْ كَانَ لَيَذْبَحُ الشَّاةَ فَيَتَتَبَّعُ بِهَا صَدَائِقَ خَدِيجَةَ فَيُهْدِيهَا لَهُنَّ ) [ سنن الترمذي: ۲۰۱۷]

ژباړه: له عائشې رضي الله عنها نه روايت دي چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په بي بيانو کې پر هيڅ چا دومر غيرت نه يم نيولې لکه خديجه رضي الله عنها، په دې خاطر نه چې ما ليدلې وه مګر دا چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به صفتونه ډېر کول، ان که بيزه ( وزه ) به يې ذبحه کړه نو د خديجې رضي الله عنها د ښځينه ملګرو پلټنه به



WWW.LARHAUD.COM

يې کوله او هغوی ته به يې ډالۍ ليږدولې.

**په اوبلنو شيانو کې تنفس نه کول:**

٦٠ – : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ( يَتَنَفَّسُ فِي الشَّرَابِ ثَلَاثًا، وَيَقُولُ: «إِنَّهُ أَرْوَى وَأَبْرَأُ وَأَمْرَأُ»، قَالَ أَنَسٌ: «فَأَنَا أَتَنَفَّسُ فِي الشَّرَابِ ثَلَاثًا ) [ صحيح مسلم: ۲۰۲۸ ].

WWW.LARHKUD.COM

له انس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به د اوبو په څښلو کې درې ساګاني اخستلې، او ويل به يې: دا ډول څښل ښه خړوبونکي، صحتمند او ښه هضمېدونکي وي.

**په اخستلو او خرڅولو کې نرمي کول:**

٦١ – : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللهِ

صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، قَالَ: ( رَحِمَ اللّهُ رَجُلًا سَمْحًا إِذَا بَاعَ، وَإِذَا اشْتَرَى، وَإِذَا اقْتَضَى ) [ صحيح البخاري: ٢٠٧٦ ].

له جابر رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: پر هغه سړي دې الله مهربانه شي چې د پلور او پير او د پور غوښتلو په مهال نرمي کوي.

**له جاهلي غيرت څخه ځان ساتل:**

٦٢ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ أَنّ النّبِيّ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ:[ مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ، فَرَأَى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا، فَلْيَأْتِهَا، وَلْيُكَفِّرْ عَنْ يَمِينِهِ ) [ صحيح مسلم: ١٦٥٠ ]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: که څوک لوړه پورته کړي او بر عکس کار کې يې خير او ګټه وليده نو ګټور کار دې وکړي او له خپل قسم څخه دې کفاره ورکړي.

WWW.LARHKUD.COM

**په نېک عمل باندې مداومت عادت ګرځول که څه هم لږ وي:**

٦٣ – : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: أَنَّ النَّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ، خُذُوا مِنَ الأَعْمَالِ مَا تُطِيقُونَ، فَإِنّ اللّهَ لاَ يَمَلُّ حَتّى تَمَلُّوا، وَإِنّ أَحَبّ الأَعْمَالِ إِلَى اللّهِ مَا دَامَ وَإِنْ قَلّ ) [ صحيح البخاري: ٥٨٦١ ].

له عائشې رضي الله عنها نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي: ای خلکو! نېک عملونه دومره وکړئ چې ستاسو توان وي، تاسو ته په ثواب درکولو باندې الله پاک نه ستړی کیږي ترڅو تاسو خپله د نېک عمل په کولو ستړي نه شئ، او الله پاک ته پسند عمل هغه دی چې د تل لپاره وي که څه هم لږ وي.

**په خير ښېګړو کې د چارواکو خبره منل:**

٦٤ – : عَنْ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، قَالَ: ( السّمْعُ وَالطّاعَةُ عَلَى المَرْءِ المُسْلِمِ فِيمَا

WWW.LARHKUD.COM

أَحَبَّ وَكَرِهَ، مَا لَمْ يُؤْمَرْ بِمَعْصِيَةٍ، فَإِذَا أُمِرَ بِمَعْصِيَةٍ فَلاَ سَمْعَ وَلاَ طَاعَةَ ) [ صحيح البخاري: ۷۱٤٤ ]

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: پر مسلمان سړي باندې په پسند او ناپسند حالت کې د چارواکو خبره اورېدل او منل فرض دي، تر څو ورته په معصیت امر نه وي شوی، که په معصیت ورته امر وشي نو نه دې ورله خبره اوري او نه دې مني.

WWW.LARHKUD.COM

**له درېو ورځو څخه زیاتې ورانې نه ځان ژغورل:**

٦٥ - : عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ( لاَ يَحِلُّ لِرَجُلٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلاَثِ لَيَالٍ، يَلْتَقِيَانِ: فَيُعْرِضُ هَذَا وَيُعْرِضُ هَذَا، وَخَيْرُهُمَا الَّذِي يَبْدَأُ بِالسَّلاَمِ) [ صحيح البخاري: ٦٠٧٧ ]

ژباړه: له ابو ایوب انصاري رضي الله عنه نه روایت دي چې

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: له چا سره نه بنايي چې له دريو ورځو پورته له خپل ورور سره ورانه ويجاړه وپالي، دواړه سره په داسې حالت کې مخامخ کیږي چې او دا له هغه او هغه له ده نه مخ اړوي، په دواړه کې غوره هغه دی چې په سلام کولو لومړيتوب وکړي.

**د ايمان خزانې:**

٦٦ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: [ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَاليَوْمِ الآخِرِ فَلاَ يُؤْذِ جَارَهُ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَاليَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَاليَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ ) [ صحيح البخاري: ٦٠١٨ ].

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: که څوک پر الله پاک او د اخرت په ورځ ايمان لري نو خپل همسايه دې تکليف کې

WWW.LARHKUD.COM

نه اچوي، او که څوک په الله پاک او د اخرت په ورځ ایمان لري نو د خپل میلمه قدر دې وکړي، او څوک چې په الله پاک او د اخرت په ورځ ایمان لري نو یا دې د خیر او سعادت خبرې وکړي او یا دې خاموش شي.

**په حیواناتو رحم ترحم کول:**

٦٧ – : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: [ أَنّ رَجُلًا رَأَى كَلْبًا يَأْكُلُ الثّرَى مِنَ العَطَشِ، فَأَخَذَ الرّجُلُ خُفّهُ، فَجَعَلَ يَغْرِفُ لَهُ بِهِ حَتّى أَرْوَاهُ، فَشَكَرَ اللّهُ لَهُ، فَأَدْخَلَهُ الجَنّةَ ) [ صحيح البخاري: ١٧٣ ]

ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: یو سړي سپی ولید چې د تندې له کبله یې خټې څټلې، نو خپله موزه یې راواخسته او تر هغه یې ورله لپې لپې اوبه ورکولې چې خړوب یې کړ، نو الله یې عمل قبول کړ او جنت ته یې ننویست.



WWW.LARHUD.COM

**د اول صف اجر او مثوبت:**

٦٨ – : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: ( لَوْ يَعْلَمُ النّاسُ مَا فِي النِّدَاءِ وَالصّفِّ الأَوّلِ، ثُمّ لَمْ يَجِدُوا إِلّا أَنْ يَسْتَهِمُوا عَلَيْهِ لَاسْتَهَمُوا، وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِي التّهْجِيرِ لَاسْتَبَقُوا إِلَيْهِ، وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِي العَتَمَةِ وَالصُّبْحِ، لَأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا ) [ صحيح مسلم: ٤٣٧ ]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: که خلک د اذان او لومړي صف په ثواب پوهېدلای نو که له خښنې پرته يې بله چاره نه وه موندلې نو ورباندې به يې خښنې کړې و، او که خلکو ته پته وه چې د لمونځ ته په وختي تګ کې څومره اجر او مثوبت دی نو له يو بل څخه به ورته مخکې شوي وو، او که خلکو ته معلومات وای چې په ماسخوتن او سهار لمونځونو کې څومره اجرونه دي نو هرومرو به ورته راغلی

وای که په خاپوړو ولې نه وای!

## له مسلمان سره د ښه برتاو ثوابونه:

٦٩- : عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ : ( الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يُسْلِمُهُ، مَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللّٰهُ فِي حَاجَتِهِ، وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً، فَرَّجَ اللّٰهُ عَنْهُ بِهَا كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ) [ صحيح مسلم: ٢٥٨٩].

ژباړه: له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: مسلمان د مسلمان ورور دی، نه به پرې زیاتی کوي او نه به يې چا ته (دتعذیب لپاره) سپاري، څوک چې د مسلمان ورور په اړتیاو کې بوخت وي الله به د ده اړتیاوې پوره کړي، که څوک له مسلمان څخه تکلیف پورته کړي نو الله پاک به ورڅخه د

WWW.LARHKUD.COM

قیامت تنګه او سخته پورته کړي، څوک که په مسلمان باندې پرده واچوي نو د قیامت په ورځ به الله پاک په ده پرده واچوي.

### د سپینږیري احترام:

۷۰ – : عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ( إِنَّ مِنْ إِجْلَالِ اللَّهِ إِكْرَامَ ذِي الشَّيْبَةِ الْمُسْلِمِ، وَحَامِلِ الْقُرْآنِ غَيْرِ الْغَالِي فِيهِ وَالْجَافِي عَنْهُ، وَإِكْرَامَ ذِي السُّلْطَانِ الْمُقْسِطِ ) [ سنن أبي داود: ٤٨٤٣].

ژباړه: له ابوموسی اشعري رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: د الله پاک له قدر او احترام څخه د مسلمان بوډا، د قران حامل ( قاري او عالم ) چې نه وریکي زیاتی کوي او نه ورڅخه په شنګ وي، او د هغه ټولواک قدر او احترام کول دي چې د عدل او انصاف والا وي.

**د خپلولی پاللو اجر:**

۷۱ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: ( مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ، أَوْ يُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ، فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ ) [ صحيح البخاري: ۲۰٦۷ ]

ژباړه : له انس رضي الله عنه نه روايت دی چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي ويل يې: كه څوک دوسته بولي چې خواړه يې ډېر او زندګي يې درازه شي نو خپلولي دې وپالي.

**د الله د رضا په خاطر يوه ورځ روژه نيول:**

۷۲ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ( مَنْ صَامَ يَوْمًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ، بَعَّدَ اللَّهُ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ سَبْعِينَ خَرِيفًا ) [ صحيح

WWW.LARHKUD.COM

البخاري: ۲۸٤۰ ]

ژباړه: له ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی چې ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي ويل يې: څوک چې د الله په لاره کې ( د هغه د رضا په خاطر ) يوه ورځ روژه ونيسي، نو د څلويښتو کالو په موده به يې له اور څخه الله پاک لرې وساتي.

**له تنګدسته سره د ښه تعامل اجر :**

۷۳ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ : ( وَمَنْ يَسّرَ عَلَى مُعْسِرٍ، يَسّرَ اللّٰهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ) [صحيح مسلم: ۲٦۹۹ ]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: څوک چې له تنګدسته سره د اسانۍ معامله وکړي نو الله پاک به پرې په دنيا او اخرت دواړو کې اسانتيا وکړي.

WWW.LARHKUD.COM

**د غصې قابو کولو ثواب:**

٧٤ – : عَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ الجُهَنِيّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: (مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ يَسْتَطِيعُ أَنْ يُنَفِّذَهُ دَعَاهُ اللَّهُ يَوْمَ القِيَامَةِ عَلَى رُءُوسِ الخَلَائِقِ حَتَّى يُخَيِّرَهُ فِي أَيِّ الحُورِ شَاءَ ) [سنن الترمذي: ٢٠٢١].

ژباړه: سهل له خپل پلار معاذ بن انس رضي الله عنه نه روايت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: که څوک خپله داسې غصه قابو کړي چې د کولو توان يې لري نو د خلکو په مخکې به يې د قيامت په ورځ الله پاک راوغواړي او اختيار به ورکړي چې کومه حوره يې خوښه شي ( ورېه يې کړي ) .

**پټه صدقه او خیرات کول:**

٧٥ – : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيّ صَلَّى اللَّهُ

WWW.LARHKUD.COM

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ( وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ، أَخْفَى حَتَّى لَا تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ ) [ صحيح البخاري: ٦٦٠ ]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: (او د عرش د سيورې لاندې به ) هغه سړى وي چې دومره پټه صدقه وكړي چې كين لاس يې ونه پوهيږي چې ښي لاس يې څه نفقه او خيرات كړل.

**له خلكو سره قرض حسن كول:**

٧٦ - : عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: ( مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُقْرِضُ مُسْلِمًا قَرْضًا مَرَّتَيْنِ إِلَّا كَانَ كَصَدَقَتِهَا مَرَّةً ) [ سنن ابن ماجه: ٢٤٣٠ ]

ژباړه: له ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دى چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: هيڅ مسلمان نشته چې بل مسلمان ته دوه ځله پور وركړي مګر هر ځل به ورله

WWW.LARHKUD.COM

صدقه وشمېرل شي.

**په غياب کې مسلمان ورور ته دعا کول:**

۷۷ - : عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ( مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يَدْعُو لِأَخِيهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ، إِلَّا قَالَ الْمَلَكُ: وَلَكَ بِمِثْلٍ ) [ صحيح مسلم: ۲۷۳۲ ]

ژباړه: له ابودرداء رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: هېڅ مسلمان نشته چې د خپل ورور لپاره غائبانه دعا وغواړي مګر دا چې ملائک ورته وايي: ستا لپاره دې هم همدغومره اجر او ثواب وي.

WWW.DARHKUD.COM

**د مصيبت په مهال حمدله او استرجاع ويل:**

۷۸ - : عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ( إِذَا مَاتَ وَلَدُ العَبْدِ قَالَ اللَّهُ لِمَلَائِكَتِهِ: قَبَضْتُمْ وَلَدَ عَبْدِي، فَيَقُولُونَ: نَعَمْ، فَيَقُولُ: قَبَضْتُمْ ثَمَرَةَ

فُؤَادِهِ، فَيَقُولُونَ: نَعَمْ، فَيَقُولُ: مَاذَا قَالَ عَبْدِي؟ فَيَقُولُونَ: حَمِدَكَ وَاسْتَرْجَعَ، فَيَقُولُ اللَّهُ: ابْنُوا لِعَبْدِي بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ، وَسَمُّوهُ بَيْتَ الْحَمْدِ ] ( مسند احمد: ۱۹۷۲۵، سنن الترمذي: ۱۰۲۱]

ژباړه: له ابوموسی اشعري رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: کله چې د بنده مسلمان ځوی مړ شي نو الله پاک ملائکو ته وايي: ایا زما د بنده د ځوی روح مو واخست؟ هغوی وايي: هو، الله وايي: ایا د هغه د زړه میوه (توکړه) مو واخسته؟ هغوی وايي: هو، الله پاک وايي: زما بنده نو څه وویل: هغوی ورته وايي: ستا حمد یې وواېو او انا لله وانا الیه راجعون یې وویل: الله پاک وايي: زما د بنده لپاره په جنت کې کور جوړ کړئ او د (حمد کور) نوم پرې کیږدئ.

**د روژه دار خیال ساتل:**



WWW.LARHKUD.COM

۷۹ – : عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: ( مَنْ فَطّرَ صَائِمًا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِمْ، مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا ) [ سنن ابن ماجه: ۱۷٤٦ ].

ژباړه: له زيد بن خالد رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: كه څوک د روژدار د روژه ماتي غم وخوري نو د روژه دار په څېر اجر به يې وشي، سره له دې چې د روژه دار له اجر به هيڅ نه كميږي.

WWW.LARHIKUD.COM

**د الله د رضا په خاطر مينه كول:**

۸۰ – : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: ( إِنّ اللهَ يَقُولُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: أَيْنَ الْمُتَحَابُّونَ بِجَلَالِي، الْيَوْمَ أُظِلُّهُمْ فِي ظِلِّي يَوْمَ لَا ظِلّ إِلّا ظِلِّي ) [ صحيح مسلم: ۲٥٦٦ ].

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول

الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: د قیامت په ورځ به الله پاک ووایي: زما د تعظیم په خاطر مینه کړکي چرته دي؟ زه به يې نن ورځ په هغه سیورې کې سیوري کړم چې زما د سیوري پرته به نور سیوري نه وي.

**د مسلمان ورور له عزت څخه دفاع کول:**

۸۱ – : عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ( مَنْ رَدَّ عَنْ عِرْضِ أَخِيهِ رَدَّ اللَّهُ عَنْ وَجْهِهِ النَّارَ يَوْمَ القِيَامَةِ ) [ سنن الترمذي: ۱۹۳۱ ].

ژباړه: له ابودرداء رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی ا لله علیه وسلم فرمایي: څوک چې د خپل مسلمان وروړ له ابرو څخه دفاع وکړي نو د قیامت په ورځ به يې الله پاک له مخ څخه اور واړوي.

**په اخستلو او خرڅولو کې اساني کول او دهغې غوره**



WWW.LARHUMD.COM

**والی:**

۸۲ – : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ( مَنْ أَقَالَ مُسْلِمًا؛ أَقَالَهُ اللّٰهُ عَثْرَتَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ) [ سنن ابن ماجه : ۲۱۹۹ ].

له ابوهريره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: څوک چې د مسلمان پلور او پیر عقد فسخه کړي نو د قیامت په ورځ به یې الله پاک ګناهونه وبښي.

**د خرڅلاو په مهال درون تول کول:**

۸۳ – : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: ( إِذَا وَزَنْتُمْ فَأَرْجِحُوا ) [ سن ابن ماجه: ۲۲۲۲ ].

ژباړه: له جابر رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: کله چې تول کوئ

WWW.LARHKUD.COM

نو درون تول وکړئ.

**سپین پوښاک په تن کول:**

۸٤ – : عَنِ ابْنِ عَبّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ( الْبَسُوا مِنْ ثِيَابِكُمِ الْبَيَاضَ، فَإِنَّهَا مِنْ خَيْرِ ثِيَابِكُمْ ) [مسند احمد : ۲۲۱۹].

ژباړه: له ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: له خپلو کالیو څخه سپین کالي واغوندئ، ستاسو ښه پوښاک سپین رنګی پوښاک دی.

WWW.LARHKUD.COM

**په کورونو کې د سورت بقرې ډېر ډېر لوستل:**

۸٥ – : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ

صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، قَالَ: ( لَا تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ مَقَابِرَ، إِنّ الشّيْطَانَ يَنْفِرُ مِنَ الْبَيْتِ الّذِي تُقْرَأُ فِيهِ سُورَةُ الْبَقَرَةِ ) [ صحيح مسلم: ۷۸۰ ]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: خپل کورونه مو مقبرې مه جوړوئ، ځکه چې له هغه کور څخه شيطان ځغلي چې سورت بقره وريکې لوستل کيږي.

WWW.LARHKID.COM

**په خپلو بچو نفقه کول هم صدقه ده:**

۸٦ – : عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْبَدْرِيّ رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ عَنِ النّبِيّ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، قَالَ: ( إِنّ الْمُسْلِمَ إِذَا أَنْفَقَ عَلَى أَهْلِهِ نَفَقَةً، وَهُوَ يَحْتَسِبُهَا، كَانَتْ لَهُ صَدَقَةً ) [ صحيح مسلم: ۱۰۰۲ ].

له ابومسعود رضي الله عنه نه روايت دى چې نبي

کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: مسلمان سړی چې کله په خپلو بچیانو د اجر په خاطر نفقه کوي نو د ده لپاره صدقه شمېرل کیږي.

**نفلي ( سنن رواتب ) په کور کې کول:**

٨٧ - : عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ( فَصَلُّوا أَيُّهَا النَّاسُ فِي بُيُوتِكُمْ، فَإِنَّ أَفْضَلَ الصَّلَاةِ صَلَاةُ المَرْءِ فِي بَيْتِهِ إِلَّا المَكْتُوبَةَ ) [ صحیح البخاري: ٧٣١ ].

ژباړه: له زید بن ثابت رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: ای خلکو په خپلو کورونو کې لمونځونه وکړئ، د فرض لمونځ پرته د انسان غوره لمونځ هغه دی چې په خپل کور کې یې وکړي.

WWW.LARRKUD.COM

**د کار خیر خلك دعاګانو کې یاد لرل:**

۸۸ – : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ( مَنْ صُنِعَ إِلَيْهِ مَعْرُوفٌ فَلْيُجْزِئْهُ، فَإِنْ لَمْ يَجِدْ مَا يُجْزِئُهُ فَلْيُثْنِ عَلَيْهِ، فَإِنَّهُ إِذَا أَثْنَى فَقَدْ شَكَرَهُ، وَإِنْ كَتَمَهُ فَقَدْ كَفَرَهُ، وَمَنْ تَحَلَّى بِمَا لَمْ يُعْطَ، فَكَأَنَّمَا لَبِسَ ثَوْبَيْ زُورٍ ) [ الأدب المفرد: ۲۱۵ ] .

ژباړه: له جابر رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي: که له چا سره ښه وکړی شي نو نیکو کار ته دې بدله ورکړي، که یې د بدل ورکولو توان نه و نو دعا دې ورته وکړي ځکه کله چې ورته دعا وکړي نو شکریه یې ورله ادا کړه، او که شکریه یې ورله ادا نه کړي نو د نعمت کفران

يې وکړ، او که څوک ځان پر هغه څه ډولې کړي چې
ګڼي هېڅ ورته نه دي ورکړل شوي نو لکه د دروا‌غو
دوه پوښاکه چې يې پر تن کړي وي.

**له بېوسو سره مالي مرسته کول:**

۸۹ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ
صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ( السَّاعِي عَلَى الْأَرْمَلَةِ
وَالمِسْكِينِ، كَالْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَوِ القَائِمِ اللَّيْلَ
الصَّائِمِ النَّهَارَ ) [ صحيح البخاري: ٥٣٥٣ ] .

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روایت دی چې
نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: د کونډې او
مسکين په خدمت کې بوخت انسان د ا لله په لاره کې
د مجاهد يا د شپې روڼونکي (متهجد ) او د ورځې
روژه دار په څېر ثواب لري.

WWW.LARHKOD.COM

**په خوارو باندې عیب نه لګول:**

۹۰ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: ( مَا عَابَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا قَطُّ، كَانَ إِذَا اشْتَهَى شَيْئًا أَكَلَهُ، وَإِنْ كَرِهَهُ تَرَكَهُ ) [ صحيح مسلم: ۲۰٦٤ ].

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هیڅ ډول خواړه نه دي عیب جن کړي، که به يې اشتها درلوده خوړل به يې او که به يې نه لرله نو نه به يې خوړه.

**د جمعې په ورځ خطبې ته بیخي خاموش کېدل:**

۹۱ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: ( إِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ: أَنْصِتْ، يَوْمَ



WWW.LARHKUD.COM

الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ، فَقَدْ لَغَوْتَ ) [ سنن ابن ماجه: ١١١٠ ] .

ژباړن : له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: که د جمعې په ورځ دې خپل ملګري ته وویل چې چوپ شه او حالانکې امام خطبه ویله نو تا د جمعې ثواب لغوه کړ.

WWW.LARHKUD.COM

**له ګیټکو نه لاندې پوښاک نه راښکل:**

٩٢ – : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ( مَا أَسْفَلَ مِنَ الكَعْبَيْنِ مِنَ الإِزَارِ فَفِي النَّارِ ) [ صحیح البخاري: ٥٧٨٧ ].

له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: له کومو ګیټکو خخه

چې پوښاک (لنګ، څادر، پرتوګ) لاندې وي نو په اور کې دی.

**دیني او دنیوي چارې په ښي اړخ پیلول**

۹۳ – : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ( يُعْجِبُهُ التَّيَمُّنُ، فِي تَنَعُّلِهِ، وَتَرَجُّلِهِ، وَطُهُورِهِ، وَفِي شَأْنِهِ كُلِّهِ ) [ صحيح البخاري: ۱٦۸ ].

له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم به په ښی اړخ باندې پیل کول ډېر خوښېدل، هم د پڼو په خپو کولو کې او هم د سر او ږیرې په ګمنځولو او په طهارت کې، او د ژوند په ټولو برخو کې.

WWW.LARFKU.COM

**د پلار دوستان پالل :**

٩٤ – : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: ( أَبَرُّ الْبِرِّ أَنْ يَصِلَ الرَّجُلُ وُدَّ أَبِيهِ ) [ صحيح مسلم: ٢٥٥٢ ].

ژباړه: له عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دى چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: د ډېر ثواب كار دا دى چې خوك د خپل دوستان او پېژندګلو وپالي.

WWW.LARHKUD.COM

**د شوال مياشتې شپږ روژې نيول:**

٩٥ – : عَنْ أَبِي أَيُّوبَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ( مَنْ صَامَ رَمَضَانَ ثُمَّ أَتْبَعَهُ سِتًّا مِنْ شَوَّالٍ فَذَلِكَ صِيَامُ الدَّهْرِ ) [ سنن الترمذي: ٧٥٩ ].

ژباړه: له ابوايوب رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: څوک چې د رمضان د مياشت روژې ونيسي او وروسته شپږ د شوال روژې ونيسي نو د كال د روژو په څېر ثواب به يې وشي.

**د قران كريم د لوستلو ثواب:**

٩٦ - : عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: ( خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ فِي الصُّفَّةِ، فَقَالَ: أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنْ يَغْدُوَ إِلَى بُطْحَانَ - أَوِ الْعَقِيقِ - فَيَأْخُذَ نَاقَتَيْنِ كَوْمَاوَيْنِ زَهْرَاوَيْنِ بِغَيْرِ إِثْمٍ بِاللهِ عَزَّ وَجَلَّ، وَلَا قَطْعِ رَحِمٍ؟ قَالُوا: كُلُّنَا يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: فَلَأَنْ يَغْدُوَ أَحَدُكُمْ كُلَّ يَوْمٍ إِلَى الْمَسْجِدِ، فَيَتَعَلَّمَ آيَتَيْنِ مِنْ كِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ، خَيْرٌ لَهُ مِنْ نَاقَتَيْنِ، وَإِنْ

WWW.LARHKUD.COM

ثَلَاثٌ فَثَلَاثٌ مِثْلُ أَعْدَادِهِنَّ مِنَ الْإِبِلِ) [سنن أبي داود:١٤٥٦]

ژباړه : له عقبه بن عامر رضي الله عنه نه روایت دی چې مونږ په صفه (چوپالګي) کې ناست ول چې رسول الله صلی الله علیه وسلم راووت، ویویل: په تاسو کې چا ته خوښه ه ده چې هر سهار بطحان یا عقیق ته ولاړ شي او د غټو کوپو والا سپینې دوه اوښې راولي، چې نه یې په ګناه (غلا او اختلاس ) سره اخستې وي او نه یې پرې خپلولي قطع کړې وي، صحابه کرامو وویل: مونږ ټول یې پسند بولو، هغه وویل: که تاسو څوک هره ورځ مسجد ته وختي راشي او له قران څخه دوه ایتونه زده کړي نو د دوو اوښانو څخه به ورله بهتر وي، که درې ایتونه یې یاد کړل له

WWW.LARHKUD.COM

دريو اوښانو ښخه به ورله بهتر وي، نو که هرڅومره ايتونه وي هومره يې له اوښانو ښخه ډېر بهتر دي.

**د نيت خلوص د عملونو د قبول بنسټ دی**

٩٧ – :عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ: أَيُّ العَمَلِ أَفْضَلُ؟ فَقَالَ: «إِيمَانٌ بِاللّٰهِ وَرَسُولِهِ». قِيلَ: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: «الجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ» قِيلَ: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: «حَجٌّ مَبْرُورٌ] ( صحيح البخاري: ٢٦ ).

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه وپوښتل شول چې کوم عمل ډېر غوره دی؟ هغه ورته وويل: پر الله پاک او د هغه په رسول باندې ايمان لرل، بيا وپوښتل شول: بيا کوم عمل بهتر دی؟ هغه وويل: د الله پاک په

WWW.LARHUD.COM

لاره کې جهاد کول، بیا ویوښتل شول: بیا کوم عمل دی؟ هغه وویل: مقبول حج .

**د پښو خپو کولو آدبونه:**

۹۸ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ( إِذَا انْتَعَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَبْدَأْ بِالْيُمْنَى، وَإِذَا خَلَعَ فَلْيَبْدَأْ بِالشِّمَالِ، وَلْيُنْعِلْهُمَا جَمِيعًا، أَوْ لِيَخْلَعْهُمَا جَمِيعًا ) [ صحیح مسلم: ۲۰۹۷ ]

ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: تاسو کې چې کله څوک پښې په خپو کوي نو په ښۍ خپه دې پیل وکړي او چې اوباسي يې نو په کیڼې خپې دې پیل وکړي، یا دې دواړه په خپو کړي او یا دې دواړه اوباسي.

**له مصيبتونو څخه د بچاو ښه لامل:**

٩٩ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ مَنْ فَجِئَهُ صَاحِبُ بَلَاءٍ، فَقَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي عَافَانِي مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهِ، وَفَضَّلَنِي عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيلًا، عُوفِيَ مِنْ ذَلِكَ الْبَلَاءِ، كَائِنًا مَا كَانَ ] ( سنن ابن ماجه: ٣٨٩٢ ).

ژباړه: له ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: كه څوک ناڅاپه مصيبت زده ووينې او داسې ووايي: الحمدلله... هغه الله لره حمد او ثنا ده چې له هغه مصيبت څخه يې ما ته عافيت راكړى دى چې ته يې پرې ازمايلى يې، او پر خپل ډېر مخلوق يې ما ته بهتري راكړې ده، مګر الله پاک به يې له ياد مصيبت څخه سالم وساتي،

WWW.LARHKUD.COM

که مصیبت هر څومره او هر څنګه وي.

**په ګډه توګه خوراک کولو کې برکت وي:**

۱۰۰ – : عَنْ وَحْشِيِّ بْنِ حَرْبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ:أَنَّ أَصْحَابَ النَّبِيِّ، صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ،إِنَّا نَأْكُلُ وَلَا نَشْبَعُ، قَالَ: «فَلَعَلَّكُمْ تَفْتَرِقُونَ؟» قَالُوا: نَعَمْ، قَالَ: «فَاجْتَمِعُوا عَلَى طَعَامِكُمْ، وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهِ يُبَارَكْ لَكُمْ فِيهِ ] ( سنن أبي داود: ۳۷٦٤ ).

ژباړه: له وحشي بن حرب رضي الله عنه نه روایت دی چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ملګرو وویل: ای د الله رسوله! مونږ خواړه وخورو خو پرې نه مړیږو، هغه وویل: شاید تاسو به جلا جلا خوراک کوئ؟ هغوی وویل: هو، همداسې ده، هغه ورته وویل: پر خپلو خوړو باندې راغونډ شئ او د الله نوم پرې یاد

WWW.LARKUO.COM

کړئ، ستاسو لپاره به وریــکي برکت واچول شي.

الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ بِنِعْمَتِهِ تَتِمُّ الصَّالِحَاتُ

WWW.LARHKUD.COM